

# بانک

د افغانستان بانک میاشتنی

یوولسم کال، یوسلوپنځه ویشتمه ګڼه د ۱۳۹۶ کال د لړم میاشت

د افغانستان بانک

## زمونږ پیسې، زمونږ هویت / پول ما، هویت ما




**د افغانستان بانک خبرتیا!**

د افغانستان بانک د قانون د دري دېرشمې مادې مطابق د افغانستان رایجې پیسې او پولي واحد افغانی دي، له همدې امله د ټولو افغانانو، دولتي او خصوصي ادارو او مؤسسو څخه غوښتل کیږي څو په قرار دادونو، نورو معاملو او په اقتصادي راکړو او ورکړو کې له افغانیو کار واخلي، ځکه چې افغانی په سیمه کې یوه با ثباته پیسه ده چې ستاسو د اقتصادي برنامو جوړونه په ثبات کې ګټوره تمامیږي.

# بانک


صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حمیدالله فیضی، عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: آمریت اسناد و ارتباط، د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


توسعه کشت زعفران؛ تقویت اقتصاد کشور را به همراه دارد

د افغانستان بانک، د بهرنۍ مستقیمې پانګې اچونې د کره شمیرو...

نشست هیئت رهبری د افغانستان بانک با هیئت کمیته تعذیرات...

مسئول انستیتوت مالی و بانکداری افغانستان گزارش عملکرد ...

د افغانستان بانک د مشکوکو مالي معاملو د راپور ورکونې په...

د افغانستان بانک دکارکوونکو د روغتیایي خوندیتوب په موخه...

افغان حکومت او د پیسو نړیوال صندوق ترمنځ د کریډټ د...

تفاهمنامهٔ همکاری تبادل اطلاعات مالی میان واحد های ...

د افغانستان بانک برنامه روشنگرانهٔ خود در قبال پول ملی را در ...

په الکټرونیکي بانکدارۍ ورځ تربلې باور او اعتماد زیاتیږي

ارتقای فناوری در سیستم های بانکی

په ۲۰۱۷ کال کې د هندي بانکونو وضعیت

د افغانستان بانک لومړي مرستیال د افغانستان بانک د کریکیټ ...

د افغانستان بانک، د کار کوونکو د لوړو زده کړو سمبالتیا لپاره...

د افغانستان بانک د کارکوونکو د ګمارنې په برخه کې په ...

د نړۍ اقتصادي خبرونه

طلای سرخ جایگزین زهر سیاه

د پیسو تاریخي بهیر ته ځغلنده کتنه


د کوچنیو او منځنیو کارونو تشویق د اقتصادي پرمختګ لپاره ...

بهرنیو بازارونو ته د وچې او تازه میوې صادراتو کچه لوړه ...

سویفت، کارکرد و مزایای آن در نظام بانکداری

نقش شبکه های اجتماعی آنلاین در حیات بانک‌ها


**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "مجله بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسندگان آن بر می گردد، همچنان استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



## توسعه کشت زعفران؛ تقویت اقتصاد کشور را به همراه دارد

زراعت در کنار سکتورهای خدمات و صنعت در رشد تولید ناخالص داخلی نقش مهمی را ایفاء می نماید و یکی از سکتور های مهم اقتصادی کشور محسوب می گردد. به هر اندازه ایکه در محصولات و تولیدات این سکتور افزایش بعمل آید، به همان اندازه تأثیرات مطلوبی را بالای رشد تولید ناخالص داخلی و اقتصاد کشور می گذارد.

طی دهۀ گذشته زعفران یا طلای سرخ نیز در کنار سایر محصولات زراعتی در جمع این محصولات پیوست و کشت آن نتیجۀ مطلوبی داشته است. با توجه به محیط مناسب افغانستان و بلند بودن قیمت یا بهای زعفران نسبت به سایر محصولات زراعتی، افغانستان می تواند با میکانیزه ساختن این محصول در آمد خوب را نصیب خود کند.

میکانیزه ساختن کشت و تولید زعفران، حمایت از دهاقین در این زمینه، پروسس و بسته بندی معیاری از جمله مواردی اند که می تواند زعفران افغانستان را در بازارهای جهانی بیشتر مطرح ساخته و عاید بیشتری را در قبال داشته باشد. بدین ملحوظ، دولت باید راهکاری را برای رشد هر چه بیشتر این محصول روی دست داشته و آنرا جنبه عملی ببخشد.

افزایش در میزان حاصلات و صادرات زعفران نه تنها باعث ایجاد هزاران شغل برای هموطنان ما می شود، بلکه وسیله کسب درآمد بوده و بلند بردن سطح زندگی دهاقین، رشد تولید ناخالص داخلی، ورود اسعار به کشور و سرانجام تقویت اقتصاد کشور را نیز به همراه خواهد داشت.▣

# د افغانستان بانک، د بهرنۍ مستقیمې پانګې اچونې د کره شمیرو د سروې په موخه چمتوالی نیولی



کابل، ۱۳۹۶ کال، د لړم ۲۳ – د افغانستان بانک د پولي سیاست کارکوونکو د بهرنۍ مستقیمې پانګې اچونې د سروې په موخه د پیسو نړیوال صندوق (IMF) په غوښتنه، په افغانستان کې د بهرنۍ مستقیم پانګې اچونې په اړه د سروې لومړنۍ طرحه د افغانستان بانک له مشرتابه پلاوي سره شریکه کړه.

د افغانستان بانک لوی رئیس ښاغلي خلیل صدیق د غونډې په ترڅ کې د پولي سیاست د آمریت د بهرنۍ مستقیمې پانګې اچونې له طرحې څخه د خوښۍ ترڅنګ وویل چې د کره شمیرو راټولول او په افغانستان کې نړیوالو ته د کره بهرنۍ پانګې اچونې په اړه د شمیرو وړاندې کول د افغانستان د اقتصادي سکتور ځواکمنتیا او پیاوړتیا په ګوته کوي.

ښاغلي خلیل صدیق زیاته کړه چې د بهرنۍ پانګې او کورني تولید یا (GDP) په اړه باید کره شمیره او احصائیه شتون ولري چې د دې سروې ترسره کول یې ښه پیل دی او وروسته له دې به ټولې اداري د افغانستان بانک د راپور او شمیرو په تمه وي.

د افغانستان بانک د پولي سیاست آمریت وایي چې په دې اړه یې د مالیې او تجارت وزارتونو په ګډون یې له مرکزي احصائیې اداري سره هم خبرې کړي چې د نوموړو ادارو په همغږۍ به د بهرنۍ پانګې اچونې سروې ترسره شي. دغه سروې باید د ۲۰۱۹ زیږدیز کال تر پایه بشپړه شي، ځکه د پیسو نړیوال صندوق هم غواړي چې د افغانستان بانک له خوا ورته د وړاندې شویو شمیرو له مخې خپلې پریکړې ترسره کړي.

دیادونې وړ ده چې د یوه هېواد اقتصاد په پانګونې ولاړ وي، ځکه د همدې پانګونې په ترڅ کې تولید رامنځته کیږي او تولید بیا د وګړو هڅې او فعالیتونه د اقتصادي پیاوړتیا په موخه سره را یو ځای کوي، نو باید د اقتصادي نظام د ځواکمنتیا په موخه پانګونه تشویق، ملاتړ او وهڅول شي.▣

# نشست هیئت رهبری د افغانستان بانک با هیئت کمیته تعذیرات شوراي امنیت ملل متحد





کابل، ۷ عقرب ۱۳۹۶- هیئت د افغانستان بانک تحت ریاست محترم واحد الله نوشیر معاون اول و سرپرست دافغانستان بانک با هیئت کمیته تعذیرات شورای امنیت ملل متحد روی نقش د افغانستان بانک در بهبود سکتور مالی و بانکی در دفتر مرکزی د افغانستان بانک، ملاقات نمودند. محترم واحد الله نوشیر معاون اول و سرپرست د افغانستان بانک در این ملاقات طی صحبتی از دست آورد های د افغانستان بانک در راستای بهبود نظام بانکی یاد آوری نموده افزود که د افغانستان بانک منحیث نهاد رهبری کننده و قانون گذار سکتور بانکی کشور، متعهد است تا نظام بانکی را با معیار های بین المللی عیار نماید که خوشبختانه در این راستا با برداشتن گامهای عملی موفق بوده، چنانکه اقدامات د افغانستان بانک در این راستا از جانب نهاد های بازرس، مورد ستایش قرار گرفته است.

متعاقباً هیئت کمیته تعذیرات شورای امنیت ملل متحد، ضمن ستایش از دست آورد های د افغانستان بانک در راستای بهبود هرچه بهترنظام بانکی، سوالات تخنیکی را مطرح نمودند که از جانب هیئت د افغانستان بانک پاسخ داده شد و مورد قناعت هیئت کمیته تعذیرات شورای امنیت ملل متحد قرار گرفت.▣

# مسئول انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان گزارش عملکرد سالانه خود را به هیئت مدیره این انستیتیوت پیشکش کرد



نشست هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان تحت ریاست محترم واحدالله نوشیر معاون اول و سرپرست د افغانستان بانک و رئیس هیئت مدیره انستیتوت مالی و بانکداری ا فغانستان تدویر یافت. گزارش عملکرد انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان توسط محترم لطف الحق پسرلی آمر این انستیتیوت به حضور هیئت محترم مدیره پیشکش و در زمینه فیصله های لازم بعمل آمد. باید یاد آورد شد که در این نشست محترم جاوید وفا و بهرام برزین اعضای هیئت مدیره انستیتیوت نیز حضور داشتند.

محترم واحد الله نوشیر معاون اول د افغانستان بانک بعد از استماع گزارش، به هدف پیشرفت و تقویت سکتور مالی هدایات و رهنمایی های لازم را برای مسئول انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان صادر نموده و افزود که د افغانستان بانک آماده هر نوع همکاری به هدف تقویت سکتور مالی با انستیتیوت متذکره می باشد.

در عین حال مسئول انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان موجودیت انستیتیوت مالی و بانکداری را در بخش ارتقای ظرفیت کارمندان سکتور مالی مهم عنوان نموده بیان داشت که این انستیتوت تلاش می کند تا در راستای ارتقای ظرفیت کارمندان بخش مالی ادارات دولتی و خصوصی گام های مثبتی را بردارد.

باید یاد آور شد که انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان به شمول بانکها، شماری زیادی از کارمندان بخش مالی و محاسبه وزارت خانه ها را آموزش داده که این پروسه ادامه دارد.▣

# د افغانستان بانک د مشکوکو مالي معاملو د راپور ورکونې په ښه والي کار کوي



د افغانستان بانک د مالي استخباراتو ادارې د مشکوکو مالي معاملو د راپور ورکونې د کیفیت د ښه والي په موخه ښوونیز ورکشاپ جوړ کړی وو. په دې ښوونیز ورکشاپ کې څرګنده شوه چې د تېرو کلونو په پرتله د مشکوکو مالي معاملو د راپور ورکونې بهیر ښه شوی دی.

د افغانستان بانک د مالي استخباراتو د ادارې د آمر ښاغلي نثار احمد یوسفزي په وینا چې تردې مهاله د یو میلیارډ ډالرو په ارزښت د مشکوکو مالي معاملو په اړه راټول شوي معلومات یې له امنیتي او کشفي ارګانونو سره شریک کړي چې ډېرې قضیې اوس تر عدلي او قضایې تعقیب لاندې دي.

ښاغلي یوسفزي زیاته کړه چې اوس مهال دوی دا معلومات له ۱۴ ادارو سره شریکوي چې د اداري فساد په مخنیوي او همداراز د تورو معاملو په کمښت یې مثبت اغیز کړی دی. د افغانستان بانک هڅه کوي چې د مشکوکو مالي معاملاتو په اړه معلومات ترلاسه کړي، څو د اداري فساد لپاره لارې بندې او پرته له ستونزو یو بشپړ مالي نظام رامنځته شي.

د مشکوکو مالي معاملاتو د راپور ورکونې د ښه والي په موخه دا لومړی ښوونیز ورکشاپ نه دی، مخکې تردې هم دې ته ورته ورکشاپونه جوړ شوي چې له ځان سره یې ښې پایلې لرلي دي. په دې ورکشاپ کې د دولتي او خصوصي بانکونو د قوانینو د پیروۍ د برخې آمرینو او مرستیالانو ګډون کړی وو.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د مالي استخباراتو اداره په ۲۰۰۴ زیږدیز کال کې جوړه شوې او مهمه موخه یې د هغو وګړو د ناسمو ګټو اخیستنو مخنیوی دی چې عواید له نا مشروع لارو ترلاسه کوي او د تروریزم د تمویل او ملاتړ په برخه، یاهم نورو غیرقانوني لارو کې ترې ګټه اخلي.

د افغانستان بانک د مالي استخباراتو اداره، د افغانستان د مالي نظام په لا ټینګښت، د نړۍ له مالي نظامونو سره د راکړې او ورکړې لپاره د هبواد د مالي نظام په پیاوړتیا او د افغانستان په راتلونکي اقتصادي ودې، پانګونې او اقتصادي غوړېدا باندې ټینګار کوي.▣

# د افغانستان بانک دکارکوونکو د روغتیایي خونديتوب په موخه د بيمې د آسانتياوو په ترلاسه کولو ټينګار کوي





کابل، د ۱۳۹۶ کال د لړم ۱۳ مه- د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي دکارکوونکو د روغتیایي خونديتوب په موخه د ۱۴۲ کارکوونکو په غوښتنه يې د بيمې له يوې معتبرې کمپنۍ سره د روغتیایي بيمې تړون لاسليک کړی وو، چې د فعاليتونو د روښانه کولو او پيليدا په موخه يې نن غونډه جوړه کړه.

د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي واحدالله نوشير د دې غونډې په ترڅ کې د کارکوونکو روغتيا يوه اړينه موضوع وبلله او وې ويل چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې د يوه سالم او روغتيا لرونکي ټيم په لرلو سره خپلې چارې په ښه توګه پرمخ یوسي.

ښاغلي نوشير زياته کړه چې په روغتيا کې پرمختګ نغښتی او د بيمې تړون لاسليک هم د کارکوونکو خوښې پورې تړاو لري چې روغتيايي بيمه ترلاسه کوي او که.

دغه راز د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي نوشير له دې وخت څخه په ګټې اخيستنې د افغانستان بانک پر کارکوونکو غږ وکړ چې خپل وړانديزونه، نيوکې او مشورې د افغانستان بانک له رهبری پلاوي سره شريکې کړي، چې په ترڅ کې کارکوونکو خپل وړانديزونه، مشورې او نيوکې مطرح کړې او د رهبری پلاوي له خوا ورته په سړه او پراخه سينه بشپړ ځوابونه ورکړل شول.

د بشري سرچينو لوی آمر ښاغلي بشرمل پسرلي د دې تړون موخه د کارکوونکو روغتيايي خونديتوب، د افغانستان بانک د کارکوونکو روغتيا ته پاملرنه او د صعب العلاجه ناروغيو پرمهال د کارکوونکو مالي ملاتړ په ګوته کړی دی.

د يادونې وړ ده د افغانستان بانک هغه کارکوونکي چې د بيمې اسانتياوې ترلاسه کوي د ناروغيو پرمهال د بيمې کمپنۍ اړ ده چې تر ۲۵ زرو ډالرو پورې لګښت يې ورکړي.▣

# افغان حکومت او د پیسو نړیوال صندوق ترمنځ د کریدټ د تمدید د آسانتیاوو برنامې (ECF) د دویم پړاو ارزونه په بریالۍ توګه ترسره شوه

په دې وروستیو کې د افغانستان استازي او د پیسو نړیوال صندوق ترمنځ د څو ورځنیو ناستو په ترڅ کې د دویم ځل لپاره د کریدټ د تمدید آسانتیاوو برنامې دویم پړاو په موخه خپله ارزونه ترسره کړه چې په بریالیتوب ترسره شوه او په دې ارزونه کې د پیسو نړیوالو صندوق استازو د افغانستان دولت له اصلاحي پروګرامونو څخه ستاینه وکړه.

په دې ناستو او خبرو اترو کې هغه ژمنې چې د افغانستان دولت د مالي سکتورونو د اصلاحاتو، ښې حکومتوالۍ، له اداري فساد سره د مبارزې، د عوایدو په راټولولو، د ملي بودیجې د روڼ لګښت، د خصوصي سکتور د پیاوړتیا، اقتصادي ودې او کار موندنې په اړه له نړیوالو په ځانګړي توګه د پیسو نړیوال صندوق سره کړې وې، تر څیړنې او پلټنې لاندې ونیول شوې.

د افغانستان دولت او د پیسو نړیوالو صندوق د استازو ترمنځ د اصلاحاتو په برخه کې د پلي شویو ژمنو په اړه ګټور بحث ترسره شو، چې په پایله کې افغانستان دولت له خوا کړې ژمنې بریالۍ وبلل شوې او ټاکل شوې چې د دې کړنو راپور د پیسو نړیوال صندوق اجرائیوي کمیټې سره شریک شي.

د کریدټ د تمدید آسانتیاوو برنامې ارزونې راپور اوسمهال د پیسو نړیوال صندوق د اجرائیوي کمیټې تر څیړنې لاندې دی او د تایید په صورت کې به یې د دویم ځل لپاره د افغانستان له مرکزي بانک سره ۴.۵ میلیونو ( اس ډي ار) یا د حقونو د ځانګړي برداشت ( چې شاه خوا ۶.۱ میلیون ډالر کیږي) مرستې ترسره کړي.

افغانستان دولت ژمن دی چې په پورتنیو برخو کې له پیسو نړیوال صندوق سره کړې ژمنې عملي کړي او پرله پسې د پیسو نړیوال صندوق ملاتړ ترلاسه کړي، څکه دا یوازې دپیسو نړیوال صندوق نه دی چې د بودیجې په راتلو لګښت ټینګار کوي، د دې ترڅنګ له نړیوالو ډونرانو سره هم ژمنه شوې چې مرسته شوې پیسې په روڼوالي او شفافیت ولګول شي.

یاده ارزونه هم د پیسو نړیوال صندوق د اجرائیوي بورډ د تاییدۍ پورې مشروط دی او له دې مخکې د پیسو نړیوال صندوق د اجرائیوي کمیټې د تایید په صورت کې، لومړی ځل ۶.۱ میلیونه امریکایي ډالر د افغان حکومت په واک کې ورکړل شوي وو. د پیسو نړیوال صندوق د راپور له مخې په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان نا خالص کورنی پرمختګ دوه سلنه ؤ او د کرنیزو محصولاتو د زیاتیدو په صورت کې دا رقم په ۲۰۱۷ کال کې درې سلنه وړاندوینه شوې ده.

د پیسو نړیوال صندوق استازو د یاد پروګرام د لومړنۍ ارزونې په اړه خپل راپور د پیسو نړیوال صندوق اجرائیوي بورډ ته د تصویب لپاره د ۲۰۱۷ کال د مې میاشتې په اوږدو کې وړاندې کړ چې د پیسو نړیوال صندوق له خوا وستایل شو او افغان حکومت سره یې د دوامدارو مشروطو مرستو اعلان وکړ.

د پیسو نړیوال صندوق ژمن دی چې له افغان حکومت او خلکو سره د اقتصادي پروګرام لپاره د مالي ثبات د ساتلو، پیاوړې کولو او د یو سالم اقتصاد د جوړولو په موخه خپلو مرستو ته دوام ورکړي او پر همدې بنسټ یې د راتلونکو دریو کلونو لپاره له اقتصادي سمونونو څخه د ارزونې په موخه خپلې څارنې او پلټنې غځولې دي.

د یادونې وړ ده چې په لومړي ځل کې افغانستان سره د مالي سکتور د اصلاحاتو په برخه کې د پیسو نړیوال صندوق له خوا د اعتباري اسانتیاوو د پروسې په موخه د ۶.۱ میلیونو ډالرو مرسته وشوه او دې برخه کې کابو ۴۴ میلیونه ډالر ځانګړي شوي چې په مالي برخه کې د اصلاحاتو په راوستو سره به دغه ځانګړې شوې پیسې پړاو په پړاو افغانستان دولت ته سپارل کیږي.▣

http://www.imf.org/external/index.htm

http://mof.gov.af/ps/news

https://www.pajhwok.com/ps/2017/07/26/



# تفاهمنامۀ همکاری تبادل اطلاعات مالی میان واحد های استخبارات مالی افغانستان و اوکراین به امضاء رسید

مبتنی بر حکم مادۀ سی و یکم قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم، مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی افغانستان تفاهمنامۀ همکاری تبادل اطلاعات مالی مرتبط به پولشویی، تمویل تروریزم و سایر جرایم اصلی مرتبط را با اداره سرویس نظارت بر امور مالی اوکراین به تاریخ ۲۰ عقرب سال جاری که مصادف به ۱۱ نومبر۲۰۱۷ میگردد، از طریق پُست به امضاء رسانید.

این تفاهم نامه به منظور ایجاد چارچوب همکاری، تسریع تبادل اطلاعات، ایجاد میکانیزم و هماهنگی مؤثر در امر مبارزه با پولشویی وتمویل تروریزم و سایر جرایم اصلی مرتبط به پولشویی و تمویل تروریزم بین هر دو نهاد به امضاء رسید.

به اساس مندرجات تفاهمنامۀ متذکره، مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی افغانستان و ادارۀ سرویس نظارت بر امور مالی اوکراین مکلف به جمع آوری، تحلیل، تجزیه و تسهیل تبادل اطلاعات مالی به صورت خود کار ویا بر اساس درخواست طرفین غرض حمایت در تحقیقات مربوط به پولشویی، تمویل تروریزم و سایر جرایم مرتبط می باشند.

باید یاد آور شد که این شانزدهمین تفاهمنامۀ همکاری پیرامون تبادل اطلاعات مرتبط به پولشویی، تمویل تروریزم و سایر جرایم اصلی مرتبط می باشد که تا اکنون توسط مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی افغانستان با ادارات مماثل خارجی به امضاء رسیده است.▣

# د افغانستان بانک برنامه روشنگرانهٔ خود در قبال پول ملی را در مرکز و ولایات به سطح مکاتب آغاز نمود





با توجه به اینکه ترویج پول افغانی و چگونگی حفظ و نگهداشت آن از مسئولیت ها و وجایب ملی ماست، د افغانستان بانک همواره تلاش نموده تا این امر مهم را در سطوح مختلف و از طرُق مختلف برای آگاهی مردم عزیز ما برساند.

در کنار سایر برنامه های تنویری در این زمینه، اخیراً آگاهی دهی به سطح متعلمین مکاتب نیز روی دست گرفته شده است که نخستین برنامه آن بتاریخ ۱۵ عقرب ۱۳۹۶ در دو مکتب از کابل آغاز شد.

هیئت اعزامی د افغانستان بانک حین بازدید از مکاتب در زمینه استفاده از پول ملی و چگونگی حفظ و نگهداشت آن حین داد و ستُد معلومات داده و از متعلمین عزیز خواستند تا این پیام را با سایر دوستان و خانواده های محترم خود منتقل سازند.

باید یادآور شد که د افغانستان بانک با در نظر داشت اصل استراتیژیک " تشدید تلاش های فرهنگ سازانه و ترغیب مردم به استفاده هر چه بیشتر از پول افغانی"بعضی اقلام تشویقی، نشراتی و طباعتی را که شامل بکس مکتب، قلم، رساله های آموزشی برای اطفال و بروشور میشود، نیز مد نظر گرفته که حین بازدید از مکاتب به متعلمین محترم توزیع میکند.

هدف از توزیع این اقلام، تشویق و ترغیب بیشتر شاگردان به حیث آینده سازان کشور در جهت استفاده از پول ملی و حفظ و نگهداشت آن می باشد.

قابل یاد آوری است که د افغانستان بانک به ادامه تلاش های فرهنگ سازانه خود بخاطر ترویج پول افغانی و تعمیم فرهنگ نگهداشت آن، مکاتب زون غرب و متعلمین عزیز را با اهدای تحایف چون بکس مکتب، قلم، رساله های آموزشی و سایر مواد نشراتی به استفاده از پول افغانی در داد و ستُد و چگونگی حفظ و نگهداشت آن حین مراودات تشویق نمود.

محترم انور شاه یوسفی آمر زون غرب د افغانستان بانک حین توزیع این تحایف، در زمینه اهمیت استفاده از پول افغانی و توجه برای حفظ و نگهداشت آن صحبت کرده و استفاده درست از پول ملی را مسئولیت ملی همه افغانها عنوان نمود.

باید یاد آور شد که این برنامه های تنویری در مرکز و سایر ولایات کشور هنوز هم ادامه دارد.▣

# په الکترونیکي بانکدارۍ

## ورځ تربلې باور او اعتماد زیاتیږي



په افغانستان کې په لومړي ځل د ظاهر شاه د واکمنۍ پرمهال په ۱۳۱۲ کال کې د بانکدارۍ بنسټ ډېره د مرحوم عبدالمجید زابلی لخوا کیښودل شوه چې لومړنی بانک د افغانستان ملي بانک نومیده، یاد بانک له تأسیس وروسته لا زیات پرمختګ وکړ بیا د وخت په تېریدو سره نور بانکونه رامنځته شول.

د څو لسیزو مسلسل جنګ څخه وروسته کله چې د حامد کرزي په مشرۍ نوی دولت د بن کنفرانس له لارې په خپلو کارونو پیل وکړ. نوي دولت د نورو ودانیزو کارونو ترڅنګ ځینی اقتصادي برنامې هم مخ ته یوړلې چې د هغې له ټولګې څخه د بانکدارۍ پرمختګ وو.

اوس مهال په افغانستان کې۱۵ دولتي، خصوصي او د بهرني بانکونه څانګې فعالیت لري او د کابل ښار په ګډون د هېواد په ۳۳ ولایتونو کې بانکي اسانتیاوې یې د لاسرسي وړ دي. د افغانستان بانک د ۱۳۹۵ کال د کلني راپور پربنسټ د هېواد په ۸ ولایتونو کې (ATM) اسانتیاوې، ډبت کارت په ۳۰ ولایتونو او کریډټ کارت په ۶ ولایتونو کې د لاسرسی وړ دي.

د نوې تکنالوژۍ په راتلو سره د راکړې او ورکړې کړنې ډیرې آسانه شوې دي په ډیرو سوداګریو کې اوس په بانک کې فزیکي شتون ته اړتیا نشته، بسنه کوي چې یوازې خپل تیلیفون روښانه کړئ او خپل اکونټ یا بانکي سیستم ته دننه شئ او یا هم د خپل کمپیوټر ترشاه کښینئ او خپلې کړنې په انټر نیټي بانکدارۍ سره حل کړئ.

پورتنیو آسانتیاوو ته په کتو کیدلی شي ورځ تر بلې خلک په بانکي سیستم باندې باور او اعتماد زیات کړي او خپلې راکړې او ورکړې هم د بانک له لارې ترسره کړي او پرته له دې چې اوږدمهاله سفرونه وکړي خپلې کړنې د انټرنیټي پاڼې له لارې حل کړي.

بانکونه هم دنده لري داسې تګ لارې رامنځته کړي چې د هغې په وسیله خلک تشویق او لیواله کړي چې بانکونو سره خپلې پیسې کیږدي او خپلې پولي معاملې د بانکونو له لارې ترسره کړي.

اوس هم خلك د الکټرونیکي بانکدارۍ په اړه بشپړ معلومات نه لري، الکټرونیکي بانکدارۍ آسانتیاوې او سهولتونه باید په بشپړ ډول خلکو ته روښانه شي، څو خلك وکولی شي د هغې په رڼا کې بانکونو له لارې د خپلو پیسو لیږد او

»

رالیږد ترسره کړي. د بانکونو له لارې راکړه او ورکړه د وخت له زیان څخه مخنیوی کوي، تګ راتګ کې کموالی راولي او د بانکي کارت له لارې د نړۍ نورو بازارونو سره اړیکې ساتل کیږي او د همدې کارت له لارې کولی شي په نړیواله کچه پیر او پلور ترسره کړي.

په میلیاردونو افغانۍ له بانکونو دباندې دي، که دا پیسې د بانکونو له لارې دوران ته ولویږي په اقتصادي پرمختیا کې به ستر پرمختګ رامنځته کړي. ویل کیږي اوس مهال له افغانانو سره ۵۰ میلیونه ډالر نقد موجود دي او له بانکونو پرته یې په کورونو او پټو ځایونو کې ساتي.

الکترونیکي بانکدارۍ د سوداګرۍ په پرمختګ کې خورا مهم رول لوبوي، له همدې کبله اوس سوداګر هم غواړي خپلې بشپړې راکړې او ورکړې بریښنایي کړي چې په دې کار سره به الکترونیکي بانکدارۍ هم وده وکړي او د دې ترڅنګ پولي راکړې او ورکړې به خوندي او ډاډ منه فضا کې ترسره شي.

د افغانستان د ګمرکونو لوی ریاست او د افغانستان بانک د یو نوي او مډرن سیستم د پیل سره هڅه کوي چې سوداګر د دې جوګه شي چې خپل ګمرکي محصول په الکترونیکي (بریښنایي) ډول د هر سوداګریز بانک له لارې تحویل کړي.

په الکترونیکي ډول د ګمرکي محصول ورکړه د دې سبب کیږي چې سوداګر او یا ګمرکي کمیشن کاران د ګمرکي ترخیص لپاره د افغانستان بانک په څانګو کې د نقدو پیسو د ورکړې د مجبوریت یا اړتیا څخه خلاص شي. الکترونیکي ورکړه به د ګمرکي فیسونو د راغونډولو، د اداري فساد مخنیوي، د توکو د ترخیص د پروسې د چټکتیا او د نړۍ په کچه د پرمختللو ګمرکي سیستمونو سره د افغانستان د نښلولو په برخه کې همکاري وکړي. د یادونې وړ ده چې ګمرکي محصول او مالیات د افغانستان د اسلامې جمهوریت د عوایدو د بنسټیزو برخو څخه شمیرل کیږي چې هر کال د یو میلیارد ډالرو څخه زیات عواید د نوموړو سرچینو څخه لاسته راځي.

دا نوې آسانتیا د بریښنایي ورکړې د یو بشپړ سیستم د منځ ته راتګ په لوری یو بل ګام دی چې د وخت په تیریدو سره به سوداګر د دې جوګه کړي چې په ګمرک کې د خپل بانکي کریډټ کارت او ډیبټ کارت او یانورو ورته ټکنالوژیو په وسیله خپل ګمرکي محصول ورکړي. همدارنګه د افغانستان د ګمرکونو لوی ریاست یو داسې پرمختللي سیستم ته پراختیا ورکړې ده چې سوداګر به د میسجونو او یا بریښنالیکونو د لارې د ګمرکي محصول په اړوند معلومات ترلاسه کوي.▣

حمیدالله فیضي

1. http://www.afghanzariza.com
2. http://www.bartarinha.ir/fa/news/2017
3. https://da.azadiradio.com/a/24784759.html
4. د افغانستان بانک، د ۱۳۹۵ کامل، کلنی راپور،ص۱۸.

# ارتقای فناوری در سیستم های بانکی



گونزالو گورتازار

تعدادی از رهبران صنعت بانکداری در سایکزیا بانک اسپانیا، تصریح می کنند که ستراتیژی برقی سازی سیستم های بانکی به تجارب مشتریان شان افزوده، چشمه های جدید عایداتی را ایجاد و مهمتر از همه، آنها را در راستای مبارزه علیه فساد کمک می نماید.

گونزالو گورتازار رئیس اجرائیه سایکزیا بانک اسپانیا به این باور است که معاملات فزیکی با معاملات برقی در تضاد قرار ندارد.وی می گوید که برای ما منحیث یک اداره گسترده با بخش های متعدد و فعالیت های وسیع کار دشواری بود تا همه امور را بصورت منسجم در کنترول داشته باشیم، تا انیکه سیستم های برقی را اختیار نمودیم و این روند کار را برای ما سهلتر ساخته است.

امروزه سیستم های برقی بخصوص در عرصه بانکداری یکی از الزامات اساسی بشمار می رود. سایکزیا بانک برای موثریت هر چه بیشتر عملیات داخلی و فراهم آوری سهولت های لازم برای عرضه خدمات معیاری به مشتریان، تکنالوژی دیجیتالی را اتخاذ نموده است. این ابتکارات و نوآوری ها در بخش تکنالوژی باعث تغییرات در طرز ارتباط بانک با مشتریان شده و نیز در قسمت ارائه خدمات معیاری توسط بانکها نقش مهمی ایفا نموده است.

آقای گورتازار به ادامه سخنانش می افزاید که با وصف اینکه ما در عصر گذار از سیستم های سنتی بانکداری به سیستم های برقی قرار داریم، اما نمیتوانیم به معاملات فزیکی حداقل در قید حیات خود نقطه پایان دهیم. او می گوید که هر دو سیستم برقی و سنتی بانکداری در کنار هم تا مدت زمانی باقی خواهند ماند، اما با این تفاوت که نقش نمایندگی های بانکداری سنتی از عملیات به مشوره دهی مبدل خواهد شد که در آنصورت به کارمندان متخصص و متجرب ضرورت خواهد بود که این مأمول را بدوش کشند. موجودیت حداقل ۲۶۰۰۰ کمپیوتر هوشمند و تبلیت تنها در بخش های بازاریابی و عملیاتی سایکزیا بانک دال بر برقی ساختن سیستم های بانکی است که نه تنها به سرعت عمل در مرکز و شاخه های فرا مرکزی آن افزوده، بلکه عرضه خدمات معیاری با شفافیت را نیز در قبال داشته که به اعتبار بانک افزوده و بهره برداری از محصولات بانکی را نظر به تقاضای مشتریان حتی در دورترین نقاط میسر ساخته است.

آقای گورتازار بیشتر تصریح می نماید که در میان همه محصولات دیجیتلی سایکزیا بانک تنها چیزی که نسبتاً برای کارمندان این بانک خسته کن تمام میشود، مسئله صورت حساب مالی است، زیرا تکنالوژی آنرا به بانکداری فردی مبدل ساخته و هر وقت و زمان که مشتریان بخواهند، آنرا درخواست میکنند که فراهم آوری و بدسترس قرار دادن آن نسبتاً سرگرم کننده

»

به کارمندان تمام می شود.

این در حالیست که این رویکرد از جانب دیگر برای مشتریان بسیار موثر واقع شده، زیرا آنها به سادگی میتوانند در زمینه حقوق تقاعد، برنامه ریزی برای پس اندازهای خود و سایر مسایل دیگر با دریافت مشوره های لازم مشاورین این بانک، داخل اقدام شوند که نتیجه مطلوبی دربی خواهد داشت.

آقای گورتازار به ادامه سخنانش می افزاید که همه فعالیت های بانکی ما تکنالوژی محور است. سایکزیا بانک اولین بانک است که طی مراحل معاملات را از کمپیوتر های شخصی، ماشین های اتومات صرافی و موبایل ها مستقیماً به دفتر مرکزی وصل نموده است. سرمایه گذاری های طویل المدت این بانک در تکنالوژی از قبیل بیگ دیتا (Big Data)، موبیلیتی (Mobility) و کمپیوتر های شخصی هوشمند در حال حاضر عملاً به منصه اجرا گذاشته شده که نتایج کار آن نیز ثمربخش است.

**تجهیز بانک با سیستم هوش مصنوعی**

سایکزیا بانک اسپانیا در تازه ترین اقدامات خود مبنی بر کاربرد تکنالوژی جدید (هوش مصنوعی / Artificial Intelligence) سرمایه گذاری هنگفتی انجام داده است. پیری نیبوت مسئول ارتباطات و معلومات این بانک می گوید، "با نصب این سیستم های هوشمند نحو برقراری ارتباطات مشتریان با بانک کاملاً تغیر خواهد کرد. او می گوید طی چند سال آینده مشتریان بطور بسیار عادی و با لسان محلی می توانند با سیستم داخل تماس شده و حل مشکل نمایند". آقای نیبوت در ادامه سخنانش گفت که از سال ۲۰۱۴ بدینسو سیستم واتسن را برای برقراری روابط با مشتریان بکار برده اند و شاید این اولین بار است که آنها موفق شده اند تا سیستم واتسن را به لسان اسپانوی آماده و به بهره برداری بسپارند که این عملکرد در ذات خود کاریست دشوار.

آقای نیبوت همچنان گفت که در سال ۲۰۱۶ ما قادر به ساخت اولین همکار مصنوعی خویش بودیم که آنرا ما در بخش اسعار پیاده نمودیم.اهداف ما برای سال ۲۰۱۷ از این بیشتر چالش برانگیز خواهد بود، زیرا در نظر است تا به تعداد آنها افزوده شود. در بخش تجارتی سایکزیا بانک فعلاً روبات های عیار شده اند که مشتریان را در ساحات مختلف بخصوص در جهت دریافت بهترین پیشنهادات تجارتی، انتقالات پولی از طریق آیفون و بالاخره برقراری معاملات پولی از طریق واتس آپ(Whatsapp) فی ما بین دو نفر کمک می کند.

**استفاده از تحلیل سیستماتیک**

این سیستم بخشی دیگری از فرایند دیجیتل سازی سیستم های بانک سایکزیا است که از سال ۲۰۱۴ بدینسو به منصه اجرا گذاشته شده و هدف از نصب و راه اندازی این سیستم، دریافت معلومات در رابطه به مشتریان عنوان شده است.

ماریونا ویسنز، رئیس توسعه و نوآوری ستراتژیک سایکزیا بانک می افزاید که این تکنالوژی زمینه خدمات معیاری برای مشتریان را فراهم ساخته که به تبع آن چشمه های عایداتی ازدیاد یافته و امنیت اجرای معاملات نیز تا حدی تضمین می شود.

استفاده از تحلیل سیستماتیک بانک را قادر می سازد تا مشتریان را از هر گوشه و کنار شناسایی نموده و با دریافت معلومات درباره هر یک از مشتریان، محصولات بانکی را به آنها فراهم ساخته و به نحوی جذب سیستم بانکی نمایند. حُسن این سیستم در آن است که ما می توانیم

»

تصامیم خود را بصورت آگاهانه در قبال مشتریان خود اتخاذ و عملی نمائیم.

این فناوری را در عرصه تنظیم نرخ، اجرای قروض و در بخش سپرده گذاری ها نیز می توانیم بکار ببریم. استفاده از این تکنالوژی در جهت فردی ساختن اجرای قروض می تواند هم به سود بانک و هم به سود مشتریان تمام شود. خانم ویسنز میگوید که استفاده از تکنالوژی تحلیل سیستماتیک ما را در امر جلوگیری از فساد نیز کمک می کند. زیرا این سیستم طوری عیار شده که نه تنها تقاضای مشتریان برای یک محصول را می گیرد، بلکه چگونگی برخورد مشتریان را نیز تحلیل می کند. با این حال، در صورتیکه مشتریان بگونه غیر عادی برخورد کنند، مسئله بدون معطلی به بررسی و تحلیل گرفته شده و تحت پیگرد قرار می گیرد.

## راهکار های جلوگیری از سؤ استفاده بانکداری الکترونیکی

با توجه به اینکه استفاده از سیستم های جدید الکترونیکی در عرصه بانکداری بطور روز افزون به بهره برداری گذاشته میشود، ارائه راهکار های مناسب برای جلوگیری از سؤ استفاده آن از جانب افراد و اشخاص استفاده جو نیز امریست قابل تأمل و حیاتی، زیرا تبادله معلومات از طریق شبکه انترنتی بدون در نظرداشت موارد ایمنی ناامن بوده و خطرناک ثابت شده می تواند. در زمینه، موضوعی که در قدم اول برای مصئونیت سیستم ها میتواند موثر واقع شود، توجه به زیرساخت های مخابراتی، زیربنای علمی و فنی است. شبکه های ارائه کننده خدمات مالی در هماهنگی کامل برنامه های خود با جانب مخابرات را در میان گذاشته و تدابیر لازم جلوگیری از سؤ استفاده سیستم های دیجیتلی را اتخاذ نمایند. سایکزیا بانک اسپانیا نیز ضمن توجه به زیرساخت های فنی برای هماهنگی کامل معاملات با جانب ارائه کننده تکنالوژی، به برنامه های آگاهی دهی چه در سطح بانک برای همکاران و چه در سطح خارج بانک برای مشتریان را که شامل استفاده از تکنالوژی، چگونگی انتخاب رمز، شیوه های مناسب کارگیری از محصولات جدید ارائه شده از جانب بانک و بالاخره چگونگی برخورد مشتریان در صورت مفقود موبایل، تبلیت یا کمپیوتر های شخصی میشود را در نظر گرفته و به امنیت سیستم های بانکی جداً اهمیت میدهد.

کارلوس سول مسئول امنیت معلومات سیستم های دیجیتلی بانک سایکزیا میگوید که ما برای شناسایی برخورد های غیر معمول مشتریان که معمولاً دال بر سؤ استفاده ها و دریافت معاملات مشکوک می باشد، سافت ویر را طراحی نمودیم که در همکاری نزدیک با بخش های توسعه و تجارت بانک فعالیت می نمایند و در تلاش اند تا دامنه سؤ استفاده از معاملات برقی را برچیده یا حد اقل در کاهش آن اقدام عملی نمایند.▣

منبع: The Banker (Masterclass)





# په ۲۰۱۷ کال کې د هندي بانکونو وضعیت

په تېرو څو کلونو کې د صعب الحصول شتمنیو تثبیتول او د ستونزو حلول د هند په بانکي سکتور کې په یوه اصلي موضوع بدله شوې، دا په داسې حال کې ده چې د هند ریزرف بانک پر کورنیو پور ورکوونکو باندې فشار راوستی څو د خپلو بدو پورونو بشپړ حدود راښکاره کړي.

د هند بانکي سکتور لاهم د بدو پورونو له ناوړه وضعیت څخه کړیږي. تر فشار لاندې شتمنۍ چې صعب الحصول پورونه او ترڅنګ یې بیاځلي ترتیب شوي مخکې ورکړې رانغاړي، د بل هر وخت څخه په لوړه کچه کې قرار لري.

د McKinsey نړیوال مشورتي کمپنۍ لخوا د هندي بانکونو په اړه د یو راپور له مخې، په بانکي سکتور کې تر فشار لاندې شتمنیو له ۲۰۱۳ کال څخه د ۲۰۱۶ کال تر پایه پورې هر کال نږدې ۲۵ سلنه زیات شوي چې ارزښت یې له ۱۰،۰۰۰ میلیارده هندي روپیو (۱۵۵ میلیارده ډالرو) څخه اوښتی دی.

په سنګاپور کې د McKinsey کمپنۍ لوی شریک او د همدې کمپنۍ د Asia-Pacific Banking Practice عمومي مسئول جایدیپ سنګوپتا وایي "د فشار لاندې شتمنیو بار اوس د هندي بانکونو په تېره بیا د دولتي بانکونو د خالصه ارزښت څخه اوړي". "تخصیص شوي فنډونه دومره نه دي چې اړتیا پوره کړي، لکه څنګه چې د فشار لاندې پورونو او د تخصیص شوي فنډونو ترمنځ نږدې ۶۰۰۰ میلیارده هندۍ روپۍ توپیر شتون لري".

**د پور ورکړې په وړاندې خنډونه**

د فشار لاندې پورونو پر ګټورتیا باندې فشار راوستی او د بانکونو د پور ورکړې توانایي یې محدوده کړې ده. په ۲۰۱۷ مالي کال کې د هند د بانکي سکتور پور »

د ۲۰۱۰ کال راهیسې تر ټولو لېره وده موندلې ده. د یادې کمپنۍ راپور وایي چې د پور وده په ۲۰۱۷ مالي کال کې درېدلې ده او په وروستي ربعه کې د بانکونو د پور ورکړې دفترونه ۰.۱ سلنې پورې راکم شوي دي. د سهامي پورونو د دغې کموالي څخه مخکې په ۲۰۱۶ مالي کال کې خصوصي پانګونې هم راکمې شوي چې د ۲۰۱۷ کال په لومړي نیمايي کې ۷ سلنه لا زیات کموالی ښکاره کوي.

د S&P د درجه بندۍ نړیواله اداره چې د هند بانکي صنعت په یوه ناهیلیه کوونکي بڼه راکاږي، وایي چې د شتمنیو د لږ کیفیت او راکمیدونکي پانګې سره چې د هېواد د عامه سکتور بانکونه په دوامداره توګه زیانمنه کوي، پر بانکي سکتور باندې به فشار ژر راکم نه شي. د S&P کمپنۍ وړاندوینه کوي چې د ۲۰۱۷ مالي کال د لومړي نیمايي د ۱۲.۳ سلنې په پرتله به د ۲۰۱۸ کال مارچ میاشتې پورې د بانکي صنعت ټولیزه فشار لاندې شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو د ۱۳ او ۱۵ سلنو ترمنځ پورې زیاته شي.

د دولت تر ملاتړ لاندې عامه بانکونه چې د هند د بانکي سکتور د شتمنیو نږدې ۷۰ سلنه ونډه رانغاړي، د بانکي صنعت د بدو پورونو ۸۰ سلنې څخه زیاته برخه جوړوي.

په ۲۰۱۷ مالي کال کې د هند عامه بانکونو د ناخالصه صعب الحصول شتمنیو نسبت (د ټولیزه مخکې ورکړو د سلنې په توګه د ناخالصه صعب الحصول شتمنیو ونډه) په اوسط ډول د ۹ سلنې او ۱۴ سلنې ترمنځ په بدلون کې دی. هغه بانکونه چې ورباندې د صعب الحصول شتمنیو بار زیات دی لکه IDBI بانک او د هند له پولې بهر بانکونه، راپور ورکوي چې د ناخالصه صعب الحصول شتمنیو نسبتونه د ۲۰ سلنې څخه زیات شوي دي. خصوصي بانکونو په اوسط توګه د خپل عامه سکتور سیالانو په پرتله ډېره ښه کړنه درلودلې ده. د بیلګې په توګه، د HDFC بانک ناخالصه صعب الحصول شتمنیو نسبت ۱.۰۵ سلنه دی چې د بانکي صنعت تر ټولو ټیټ نرخ ښکاره کوي.

**د هند ریزرف بانک سخت شرایط وضع کوي**

بد پورونه د هندي بانکونو لپاره په اوږده موده کې یوه مهمه اندیښنه پاتې شوې، خو د دې ستونزې حقیقي اندازه هغه وخت روښانه شوه چې مرکزي بانک او د بانکي صنعت قانون جوړونکی او د هند ریزرف بانک (RBI) د ۲۰۱۵ کال په دوېمه نیمايي کې د شتمنیو د کیفیت د ارزولو رسمي پروسه چې په خپل ډول کې یو بې ساری نوښت دی، په لاره واچاوه. د دې پروسې هدف دا دی چې بانکونه اړ کړي چې فشار لاندې شتمنۍ په سم وخت سره وپېژني او د دې ترڅنګ د فشار لاندې شتمنیو په اړه د نیمګړي راپور ورکولو څخه مخنیوی وکړي.

د هند د مرکزي بانک مرستیال ویرال اچریا په یوه غونډه کې وویل " که څه هم د بنسټیزو شتمنیو د حلولو لپاره چې بانکونو په پور ورکړي دي، ډېره لږه لاسته راوړنه شوې ده، د شتمنیو د کیفیت ارزونې نوښت دا ستونزه په لویه اندازه مطرح کړې او په دې اړه یې عامه بحثونه راپورته کړي دي". هغه وایي "د حلولو څو میکانیزمونه او کاري چوکاټونه د هند د مرکزي بانک لخوا بانکونو ته وړاندې شوي څو دا پروسه پرمخ ولاړه شي، خو د دې پروسې پرمختګ ډېر ټکنی دی".

ځیني طرحې د شتمنیو ستونزو د حلولو لپاره معرفي شوي چې د ستراتیژیک پور بیا جوړولو طرحه چې بانکونو ته اجازه ورکوي د صعب الحصول شتمنیو کنټرول او تسویه پرغاړه واخلي، او د دې ترڅنګ د فشار لاندې شتمنیو د دوامداره جوړښت طرحه چې بانکونو ته اجازه ورکوي خپل ناپایداره پورونه په پور ورکوونکي کمپنۍ کې پر پانګې (اکویټي) باندې بدله کړي.

د EY India شریک او ملي رئیس »

ابیزر دیوانجي وایي "زیاتره دغه طرحې ډېر تجویزي دي او تطبیق یې ستونزمن دی". هغه وایي چې تر ټولو هیله مند کوونکی پرمختګ د ۲۰۱۶ کال د دیوالی قانون سره رامنځ ته شوی چې په ترڅ کې یې د کمپنۍ قانون ملي محکمې (NCLT) ته صلاحیت ورکړل شوی چې د سهامي شرکتونو د افلاس او دیوالی پیښو په اړه حکمیت یا داوري وکړي.

نوموړی وایي "دا کار باید د فشار لاندې شتمنیو د وخت پورې تړلي حل او فصل څخه ډاډ ترلاسه کړي". د دیوالی د نوي قانون تر چتر لاندې د ICICI بانک د لومړي ځل لپاره په دسمبر میاشت کې د اوسپنې تولیدوونکي کمپنۍ په وړاندې چې ۹.۵۵ میلیارده هندي روپۍ پوروړی دی، د دیوالی قضیه ثبت کړې ده.

**د افلاس قانون پیاوړی کېدل**

د هند تر ټولو لوی بانک، State Bank of India عمومي رئیسه اروندتی بهاتچریا د شتمنیو اړوندو ستونزو د هوارولو په پروسې کې د افلاس قانون او د NCLT محکمې ته د لادرکه شویو برخو په توګه اشاره کوي. نوموړې زیاتوي چې دا ګام او د دولت وروستی فرمان چې د هند ریزرف بانک ته واک ورکوي چې نیغ په نیغه د بانکونو په چارو کې مداخله وکړي څو د فشار لاندې پورونو د ستونزو د حل څخه ډاډ ترلاسه کړي، د صعب الحصول شتمنۍ مسئلې باندې ډېره مثبته اغېزه پرېږدي.

د خصوصي سکتور پور ورکوونکي Yes Bank عمومي او عامل رئیس رانا کپور وایي "د ۲۰۱۶ مالي کال کې د هند د ریزرف بانک د شتمنۍ کیفیت ارزونې او د بانکي چارو د تنظیم قانون کې وروستي تعدیلات سره چې ریزرف بانک ته دا توانایي وربخښي چې د صعب الحصول شتمنیو د حلولو پروسه ګړندۍ کړي، اوس د شتمنیو د کیفیت په اړه اندیښنه له تثبیت څخه حلولو حالت ته اوښتې ده. تمه کېږي چې د افلاس او دیوالی یو ښه ترتیب شوی کاري چوکاټ به د حل او فصل پروسې د چټکتیا لپاره لاره هواره کړي".

په دې اړه د خصوصي سکتور پور ورکوونکي Axis Bank د کوچنۍ بانکدارۍ عامل رئیس راجیف اناند وایي "په تېرو دوو کلونو کې تمرکز د صعب الحصول پورونو پر تثبیتولو باندې وو او له همدې امله د صعب الحصول شتمنیو شمېرې خورا لوړ شوي دي. اوس تمرکز پر حل او فصل باندې اوښتی دی. د هند د حکومت او ریزرف بانک په ګډون سره زه هیله مند یم چې مونږ به د حل او فصل حالت ته واوړو". نوموړی باور لري چې د شتمنیو اړوندو ستونزو د هوارولو پرمختګ به په راتلونکو ۱۲ تر ۱۸ میاشتو کې راڅرګند شي.

**د پانګې راټولولو بهیر پیاوړی کول**

د پانګې راټولول یا جوړول به د هندي بانکونو لپاره یوه بله مهمه ننګونه وي. بانکونه پانګې ته اړتیا لري څو خپل مقرراتي اړتیاوې بشپړې کړي او د دې ترڅنګ په هغو پورونو کې چې تر فشار لاندې پروژو ته ورکړل شوي او زیات دوام موندلی نه شي، د پام وړ کمښتونه وضع کړي. دا کمښتونه (د پور کسر کول) به بانکونه د دې جوګه وګرځوي چې د نا ترلاسه شویو پورونو یوه مشخصه برخه د راتلونکي احتیاطي اقداماتو پرته قرباني کړي.

داسې اټکل شوې چې د بازل ۳ د معیارونو سره سم به د هند د عامه سکتور بانکونه تر ۲۰۱۹ کاله پورې نږدې ۱۸۰۰ میلیارده روپۍ ته د اکویټي پانګې په توګه اړتیا ولري. حکومت د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۶ کلونو ترمنځ ۹۳۰ میلیارده هندي روپۍ وارد کړي او اعلان یې کړی چې تر ۲۰۱۹ کاله پورې به نور ۷۵۰ میلیارده هندي روپۍ اضافه کړي. له کومه چې حکومت د لازیاتې پانګې د برابرولو په برخه کې داخلي محدودیتونه لري، د عامه سکتور بانکونه باید د بیلابیلو لارو چارو په لټه ووځي څو خپل د پام وړ پانګې کمښتونه پوره کړي.

»

په پېژندل شویو انتخابونو (لارو چارو) کې د غیر اصلي شتمنیو پلورل او د اکویټي د خصوصي فعالانو یا د ازاد بازار له لارې د پانګې راټولول شامل دي، په داسې حال کې چې د کمزوره بانکونو لپاره استحکام د ډېر بحث وړ موضوع ده. رینی توماس چې د McKinsey د هند څانګې د مالي خدمتونو مشري په غاړه لري وایي "نړیوالې تجربې ښکاره کړې چې د صعب الحصول شتمنۍ د حل او تصفیې په پروسه کې د سکتور پیاوړتیا او استحکام اړین دي او مونږ تمه لرو چې همدا بهیر په هند کې ووینو".

په تېر کال کې د هند د دولتي بانک (State Bank of India) پنځه فرعي بانکونه د اصلي بانک سره یوځای شوي او تمه کېږي چې لازیات استحکام رامنځ ته شي. ښاغلی توماس اشاره کوي چې استحکام او پیاوړتیا باید د سالمه بانکونو ترمنځ راپیښه شي څکه چې دواړه د پانګې او وړتیا درلودل اړین دي. نوموړی زیاتوي چې د څارنې او د خطر مدیریت ښه کول هم اړین دي.

د هند د کمزوره بانکونو په تړاو د هند ریزرف بانک هوډ لري چې مالي دسپلین کې ښه والی راولي. دغه قانون جوړوونکی بانک درې کمزوره عامه بانکونه لکه IDBI Bank، UCO Bank، Dena Bank د قانوني څارنې لاندې راوستي چې د چټکه اصلاحي اقدام په نوم یادېږي. دا کار د پور ورکړې او عملیاتي فعالیتونه محدودي او په همدې حال کې بانکونه بیرته سالمه حالت ته راګرځوي. دا درې بانکونه لوړ خالصه صعب الحصول شتمنۍ او د شتمنیو څخه ترلاسه شوې منفي ګټه لري چې د هند د ریزرف بانک لخوا د خطر لپاره ټاکل شوي حد څخه سرغړونه کړې ده.

په تېرو میاشتو کې د عامه سکتور نږدې ۱۰ بانکونو چې د IDBI Bank، Indian Bank، د پنجاب نشنل بانک، د هند د پولې بهر بانک، Bank of India او Union Bank of India شامل دي، هم په لوړه سطحه کې لوی تشکیلاتي بدلونونه راوستي دي. له یوې خوا ځینو بانکونو بدلون ته ډېره اړتیا درلوده لکه IDBI بانک، له بلې خوا په کار وه چې دا فعالیتونه په لویه کچه ترسره شي څکه چې دغو بانکونو د صعب الحصول شتمنۍ مسئلې د حلولو توانایي نه درلوده.

**پر بانکونو د ۵۰۰ او ۱۰۰۰ هندي روپۍ د بانکنوټونو د بی اعتباره کېدو اغېزه**

د اشوین پریک مشورتي خدمتونو عامل همکار اشوین پریک وایي چې د تشکیلاتي او اصولي مسایلو سربېره په ۲۰۱۷ مالي کال کې د هندي بانکونو لپاره بله مهمه ننګونه هغه اخلال او ګډوډي ده چې د هند د لویو بانکنوټونو د بی اعتباره کېدو (Demonetization) له امله رامنځ ته شوې ده.

د ۲۰۱۶ کال د نوامبر میاشتې په ۸ نېټه د هند حکومت یو ناڅاپه د ۵۰۰ او ۱۰۰۰ هندي روپۍ بانکنوټونه له چلند څخه بهر کړل چې دا کار یې ظاهراً د تورو پیسو څخه د خلاصون او د جعلي بانکنوټونو د له منځه وړلو لپاره ترسره کړ. په داسې حال کې چې دغو دوو بانکنوټونو د هېواد د عمدتاً نغدي اقتصاد له ۸۶ سلنې څخه زیاته برخه جوړوله، مشتریان یې اړ کړل چې د بانکونو په مخه کې اوږده کتارونه جوړ کړي څو زاړه بانکنوټه په امانت کېږدي او نوي بانکنوټونه راوباسي. ښاغلی پریک وایی چې که څه هم له یوې خوا وضعیت د ۲۰۱۷ مالي کال تر څلورمې ربعې پورې عادي شوی، خو د لویو بانکنوټونو د بی اعتباره کېدو (د ۵۰۰ او ۱۰۰۰ هندي بانکنوټونو بی چلنده کېدل) فرمان سره د بانکونو تمرکز د بانکنوټونو د بندیز په موده کې د پور بیرته ترلاسه کولو عملیاتو څخه منحرف شو.▣

ادامه لري

سرچینه: The Banker July 2017

# د افغانستان بانک لومړي مرستیال د افغانستان بانک د کریکیټ ټیم له لوبغاړو سره وکتل



د افغانستان بانک اصلي دندې د افغانستان د پولي سیاست طرح او اجرا کول، د بهرنیو اسعارو د ارزی سیاست او ترتیباتو طرح کول، د بهرنیو اسعارو د رسمي زېرمو ساتنه، د افغانستان د کاغذي پیسو او فلزي مسکوکات چاپول، ضربول او خپرول د دولت بانک لرونکي ( بانکدار) او نور دندې دي.

د افغانستان بانک د خپلو اصلي دندو ترڅنګ د سپورټ په برخه کې هم فعالیتونه لري چې د فوټبال او کریکټ د لوبډلو جوړیدل یې ستړې بیلګې ګڼل کیږي.

د افغانستان بانک مشر تابه پلاوی کله نا کله د فوټبال او کریکت له لوبډلو سره ناستي کوي او د هغوي د هڅونې ترڅنګ د ورزش او سلامتیا په موخه ورسره د افغاني د دودولو په برخه کې چې زمونږ ملي مسئولیت هم دی، ځینې پروګرامونه همغږي کوي، څو د ورزشي پروګرامونو او دوستانه سیالیو د جوړیدو له لارې د افغانۍ د دودولو په برخه کې خپله ونډه ترسره کړي.

د دې لیدو کاتو په درشل کې د لړم په ۱۴ مه یې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د افغانستان بانک د کریکیټ ټیم د لوبغاړو د هڅونې په موخه د کریکیټ لوبغاړو سره وکتل او هغوی یې وهڅول چې خپل تمرینونه کړندي کړي، څو په راتلونکو سیالیو کې وځلیږي.

ښاغلي نوشیر، د افغانستان بانک د کریکیټ ټیم پرمختګ ته په کتو وویل چې د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي موخه د افغانۍ د لا ترویج ترڅنګ د کارکوونکو د روغتیا خوندیتوب دی او هڅه کوي چې د بېلابیلو برخو کې ورزشي ټیمونه ایجاد او پیاوړی شي، ترڅو له بېلابېلو دولتي او خصوصي ټیمونو سره د افغانۍ ترویج تر عنوان لاندې سیالۍ ترسره کړي، څو د افغانستان بانک نوم هم ځلانده وي.

ښاغلي نوشیر زیاته کړه که په منظم ډول سیالۍ او د لوبغاړو تمرینونه دوام ومومي، د کریکیټ لوبې به وده وکړي، نوي لوبغاړي به د سیالیو پرمهال وځلیږي او همدا ډول کارکوونکي به په ورین تندي په د افغانستان بانک کې خپلې کړنې ترسره کړي.

دیادولو وړ ده چې د افغانستان بانک د کریکیټ ټیم پوره شپږ میاشتې مخکې د افغانستان بانک د لومړي مرستیال واحدالله نوشیر په نوښت رامنځته شو چې تردې مهاله یې له بېلابېلو ټیمونو سره د افغانۍ د دودولو په موخه ۹ سیالۍ ترسره کړې چې څلور یې ګټلې او ۵ نورې یې بایللې دي. اوس د افغانستان بانک د کریکیټ ټیم په پام کې لري چې په راتلونکې کې د مالیې وزارت سربېره د نورو دولتي او خصوصي ادارو سره د کریکیټ سیالۍ ترسره کړي.▣

## د افغانستان بانک، د کار کوونکو د لوړو زده کړو سمبالتیا لپاره خپلې هڅې جاري ساتلي

کابل، د ۱۳۹۶ کال، د لړم د میاشتې ۷ او ۸ مه د افغانستان بانک، د بشري سرچینو لوی آمریت د کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو په موخه له نړیوال بانک څخه مالي مرستې ترلاسه کړې، څو د افغانستان بانک کارمندان د لسانس او ماسترۍ په کچې په زده کړو سمبال شي.

د افغانستان بانک د بشري سرچینو لوی آمریت د یوه ښوونیز ورکشاپ په ترڅ کې د کارکوونکو د وړتیاوو د لوړولو او په لوړو زده کړو دهغوی د سمبالتیا په موخه د لړم د میاشتې په اومه او اتمه د لسانس او ماسترۍ لپاره لومړني معلومات او فورمونه وویشل، څو د افغانستان بانک ټول کارکوونکي د لیوالتیا له مخې د کابل پوهنتون په ګډون په نورو معتبرو خصوصي پوهنتونونو کې د لسانس او ماسترۍ زده کړې ترلاسه کړي.

د معلوماتي ورکشاپ موخه هم په د افغانستان بانک کې د وړ او ځواکمن مدیریت رامنځته کول، د مسلکي کدرونو جذبول او همدا ډول په افغانستان کې د مالي سکتور د ودې او روڼوالي په برخه کې د ظرفیتونو لوړول دي.

د افغانستان بانک د کارکوونکو د ظرفیت د لوړوالي پروګرام د نړیوال بانک له خوا تمویلیږي، مخکې تردې هم د افغانستان بانک له خپلې بودیجې څخه د ظرفیتونو د لوړولو پروګرامونه لرل چې د افغانستان بانک ډیرې کارکوونکو د لسانس او ماسترۍ په کچه ترې ګټه اخیستې او اوس هم دوام لري.

د یادونې وړه ده، چې په دې پروګرام کې د لسانس او ماسترۍ لپاره د افغانستان بانک هغه کارکوونکي منل کیږي چې په د افغانستان بانک کې یو کال دنده ترسره کړې وي او ژمنه وکړي چې لسانس دورې وروسته به د شپږو کلونو لپاره او د ماسترۍ وروسته به د څلورو کلونول لپاره له د افغانستان بانک سره پاتې کیږي او هغه کسان چې د زده کړو پرمهال د افغانستان بانک څخه واټن واخلي اړ دي چې پرې شوې پانګه بېرته د افغانستان بانک ته وسپاري.▣

## د افغانستان بانک د کارکوونکو د ګمارنې په برخه کې په روڼوالي او شفافیت باندې ټینګار کوي

کابل، د ۱۳۹۶ کال، د لړم ۱۷مه - د افغانستان بانک د پولي سیاست آمریت تشو بستونو ته د کارکوونکو د ګمارنې لپاره د روابطو پرځای روڼوالي او ضوابطو ته د لومړتیوب ورکولو په موخه له ۷۰ تنو ګډون والو څخه تحریري آزموینه واخیستل شوه. په دې آزموینه کې د افغانستان بانک له دننه او بهر څخه ښځینه او نارینه کسانو ګډون کړی وو.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د ګمارنې د آزموینې له پروګرام څخه د لیدنې په ترڅ کې وویل چې د افغانستان بانک موخه د روابطو پرځای ضوابطو ته لومړیتوب ورکول، روڼوالی او د تشکیلاتي جوړښت د ښه تنظیم لپاره د استعداد لرونکو او په لوړو زده کړو د سمبالو وګړو په دندو ګمارل دي.

ښاغلي نوشیر زیاته کړه چې د افغانستان بانک مشترتابه پلاوی هڅه کوي چې په د افغانستان بانک کې وړ او ځواکمن مدیریت رامنځته کړي، په همدې بنسټ د مسلکي کدرونو د موندلو په موخه د هېواد ښځینه او نارینه ځوانانو ترمنځ د آزموینې سیالۍ په لاره اچوي چې روانه آزموینه یې ښه بیلګه ده.

د یادونې وړه ده، د دې آزموینې اعلان د ټولنیزو شبکو او د افغانستان بانک د رسمي سایټ لــه لارې ۱۵ ورځې مخکې اعلان شوی وو چې اوسمهال یې تحریري آزموینه ترسره شوه. په د افغانستان بانک کې د دندې د ترلاسه کولو لپاره لومړی تحریري آزموینه اخیستل کیږي، بیا بریالي کاندیدان د مرکې یا تقریري آزموینې لپاره را غوښتل کیږي او د بریالیتوب په صورت کې، پرته له ځنډ څخه په اړوندو آمریتونو کې په دنده ګمارل کیږي.▣

# اقتصادي خبرونه

**ولسمشرغني: وارداتي بیلانس انډول ته باید پاملرنه زیاته شي**

ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غني دیوې غونډې په ترڅ کې وویل چې افغانستان هر کال د دوه میلیارده ډالرو په ارزښت غذایي مواد او د یو میلیارد ډالر په ارزښت ساختماني مواد له بهرنیو هېوادونو څخه افغانستان ته واردوي.

ولسمشر خصوصي سکتور ته په خطاب کې وویل"صنعتي پارکونه غواړئ درکوو یې، ۲۵ فیصده ترجیح مو قراردادونو کې تاسې ته درکړې، خو خپل کورني تولیدات لوړ کړئ، نور بیروکراسي ستاسې مخه نشي نیولی، زمونږ ټول ښارونه په وارداتو ولاړ دي، هګی واردوئ چې شپیته ورځې پرې وتي دي، آیا مونږ د چرګانو هګی نشو تولیدولی." ولسمشر محترم محمد اشرف غني وایي په راتلوونکو درېیو کلونو کې به په ولسي تړون پروګرام ۷۵۰ میلیونه امریکایي ډالر ولګول شي او دا پروګرام د دولت یو له مهمو ابتکاراتو څخه دی.

ولسمشر محترم محمد اشرف غني چې په ارګ کې په ښاري څلورم ملي کنفرانس کې ویناء کوله وویل چې د میثاق شهروندي پروګرام به د ښار او کلي ترمنځ واټن له منځه یوسي، کلیوال تولیدات به ښار کې پلورل کیږي او له دغه پروګرام نه به ښار میشت او کلیوال ګډه ګټه پورته کوي. د افغانستان ولسمشر پدې کنفرانس کې وویل چې پنځلس ورځې وروسته به ازبکستان ته په سفر لاړ شي او هلته به ۱۴ موافقتنامې له ازبکستان سره لاسلیک کړي.

سرچینه: امریکا غږ راډیو

**موافقت‌نامۀ راه لاجورد در ترکمنستان امضاء شد**

موافقت‌نامۀ راه لاجورد در حاشیه هفتمین نشست منطقه ای ریکا، میان افغانستان، ترکیه، ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان در عشق آباد پایتخت ترکمنستان به امضاء رسید.

براساس اعلامیه دفتر اطلاع رسانی وزارت خارجه افغانستان، راه لاجورد از کشورهای ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان عبور کرده و به دریای سیاه می رسد و بعد با گذشتن از ترکیه، افغانستان را به آب های آزاد وصل خواهد کرد.

صلاح الدین ربانی، سرپرست وزارت امور خارجه افغانستان در این نشست گفت که همگرایی میان کشور های منطقه برای رشد ثبات، سودمند خواهد بود. ربانی در ادامه همچنین افزود: "نشست هفتم همکاری اقتصادی منطقه ای در حالی برگذار می‌شود که کشورهای منطقه نیازمند امنیت و اقتصاد پایدار هستند. گرد آمدن ما در این جا می تواند برای رسیدن به این هدف و حل مشکلات در این بخش منجر شود". هدف اساسی امضای موافقت‌نامه راه لاجورد تقویت ارتباطات بین کشورهای عضو از طریق ایجاد یک سیستم منسجم ترانزیتی و ترانسپورت بین آنها می‌باشد.

طبق گزارش وزارت خارجه افغانستان، هدف اساسی امضای موافقت‌نامه راه لاجورد تقویت ارتباطات بین کشورهای عضو از طریق ایجاد یک سیستم منسجم ترانزیتی و ترانسپورت بین آنها

»

می‌باشد. اجرای مؤثر این موافقت‌نامه زمینه را برای ساده سازی طبق زیرساخت‌های ترانسپورتی، هماهنگ سازی روند کاری گمرکات، افزایش تجارت، ایجاد کار و گسترش روابط اقتصادی میان شهروندان کشورهایی که از این دهلیز ترانزیتی مستفید می شوند، مساعد خواهد ساخت.

این دهلیز از بنادر تورغندی و آقینه افغانستان آغاز و به بندر ترکمن‌باشی ترکمنستان وصل می گردد. اموال تجارتی افغانستان بعد از عبور از بحیره خزر به بندر باکوی کشور آذربایجان و از آنجا به بنادر بوتی و باتومی کشور گرجستان و بندر قارس کشور ترکیه و سپس توسط کشتی ها به بنادر اروپایی و بالکان بارگیری خواهد شد.

منبع: استانبول/ خبرگزاری آناتولی

**د چابهار له لارې د هند د غنمو لومړۍ جوپه افغانستان ته ورسیده**

د غنمو دغه جوپه د اکتوبر په ۲۹ مه له هند څخه د افغانستان په لور خوځیدلې وه. له هندوستان څخه د چابهار بندر له لارې د ۱۵ زره ټُن غنمو لومړۍ جوپه، چې د روان کال د اکتوبر په ۲۹ د افغانستان په لور راخوځیدلې وه، چې د لړم په ۲۰ مه د هېواد لویدیځ ولایت نیمروز ته ورسیده.

له چابهار بندر څخه د نیمروز پولې ته د هندوستان د غنمو مرستې د لومړۍ جوپې د رارسېدو په مناسبت د شنبې په ورځ (نومبر ۱۱) په نیمروز ولایت کې ځانګړي مراسم نیول شوي وو، چې په کې د افغان دولت د کابینې یو شمیر غړو، سیمه‌ییزو چارواکو او د هند او ایران سفیرانو ګډون درلود.

د افغانستان د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو سرپرست وزیر نصیراحمد دُراني په دغو مراسمو کې وویل "افغانستان دغو همکاریو ته په نیک نظر ویني او تمه لري، چې ملګري هېوادونه په لا زیاتو همکاریو سره د سیمې په کچه د تلپاتې پراختیا لپاره نوی بنسټ کیږدي".

ښاغلي دُراني زیاته کړه، له هند څخه افغانستان ته د چابهار بندر لارې د غنمو په رارسیدلو سره، د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو نوی باب پرانیستل شوی او افغانان ویاړي، چې هېواد یې نور یوې پولې پورې تړلی نه دی، بلکې د سوداګرۍ او ترانزیت لپاره زیاتې لارې په واک کې لري.

هغه د چابهار بندر د افغانستان، هندوستان او ایران ترمنځ د همکاریو یو مهم فُرصت وباله، چې پر وینا یې په سیمه کې به د پرمختګ او د سوداګرۍ د پراختیا لامل شي.

ټاکل شوې چې هندوستان له افغانستان سره د ۱.۱ میلیون ټُن غنمو مرسته وکړي، چې له دې شمیرې څخه یې تر اوسه ۷۰۰ زره ټُنه غنم افغانستان ته ورکړي دي.

په کابل کې د هندوستان سفیر من‌پریت هورا وویل، چې د ۲۰۱۸ کال تر فبرورۍ پورې به له هند څخه ۱۱۰ زره ټُنه نور غنم هم د چابهار بندر له لارې افغانستان ته ورسیږي.▣

سرچینه: https://www.pashtovoa.com




# طلای سرخ جایگزین زهر سیاه

زعفران که از آن بنام طلای سرخ یاد می شود، به عنوان کشت جایگزین کوکنار در هرات شناخته شده است. طی سال های اخیر شماری زیادی از دهاقین به کشت این گیاه رو آورده و با صدور محصول شان به دیگر کشور ها، بازار بهتری نسبت به کشت کوکنار را تجربه کرده اند.

مسئولان ریاست زراعت هرات می گویند که کشت زعفران در جریان چند سال اخیر در این ولایت رشد خوبی داشته است. بطور مثال میتوان گفت که درآمد دهاقین تنها در ولسوالی پشتون زرغون ولایت هرات از بابت فروش محصول زعفران بیش از ۳۰ میلیون افغانی بوده و تا اکنون هیچ نوع محصولی این گونه درآمد خوبی نداشته است. طبق معلومات آنها این ارقام تنها از برداشت محصول ۳۵۰ جریب اراضی تحت کشت بدست آمده است که به قیمت های متفاوت تا حدود ۱۰۰ هزار افغانی در بازارهای داخلی به فروش رسیده است.


به باور دهاقین هرات، زعفران آنان از لحاظ کیفیت در جهان رقیب نداشته، اما نوسان قیمت در بازار هرات به یکی از نگرانی های آنان تبدیل شده است، زیرا آنان هر کیلو زعفران را به قیمت های متفاوت به فروش رسانیده اند. به گفته مسئولان ریاست زراعت هرات زمین تحت پوشش تولید زعفران طی سال ۱۳۹۵ به ۲۵۴۰ هکتار رسیده است. طی سال جاری ۱۰۰۰ هکتار زیر کشت جدید رفته است و تولید خالص این گیاه به ۶ تن رسیده است و در مقایسه با سال ۱۳۹۴، ۳۰ فیصد افزایش را نشان میدهد. ناگفته نباید گذاشت که انتقال پیاز این نبات از ایران به افغانستان قاچاق پنداشته میشود، اما خوشبختانه هرات از لحاظ تولید پیاز زعفران خود کفا شده است و در



عبدالناصر قریشی
اقتصاددان زون غرب د افغانستان بانک

سالجاری از پیاز زعفران به دیگر مناطق افغانستان صادر کرده است.

چهارمین کنفرانس ملی زعفران و نباتات در سطح علمی و اکادمیک از سوی وزارت های زراعت، مبارزه علیه مواد مخدر و امور زنان افغانستان با کمک مالی و حمایت مؤسسه یو ان او دی سی در ولایت هرات برگزار شد. در این »




کنفرانس نماینده‌گان و متخصصین امور زراعت از کشورهای منطقه شامل ایران، هندوستان، پاکستان، ازبکستان و تاجکستان همراه با شماری از استادان فاکولته ها‌ی زراعت مؤسسات تحصیلات عالی مختلف افغانستان و برخی روسای ادارات دولتی از ۱۷ ولایت کشور اشتراک نموده و روی افزایش کشت و تولید زعفران در افغانستان تبادل نظر کردند.

این کنفرانس به هدف گسترش کشت، افزایش تولید، بهبود، پروسس و بازاریابی جهانی برای فروش بیشتر زعفران و دیگر نباتات طبی افغانستان انجام شد. هدف دیگر از برگزاری این کنفرانس، تشویق دهاقین برای کشت زعفران و دست کشیدن از کشت مواد مخدر عنوان شده است. مسئولان وزارت مبارزه با مواد مخدر در این کنفرانس تلاش کردند تا گیاه زعفران را به عنوان گیاه پر درآمد و جایگزین برای کشت کوکنار معرفی کنند.

با این حال، شماری از زعفران‌کاران و استادان فاکولته زراعت ولایت هرات با اشاره به کیفیت و مساعد بودن خاک هرات برای کشت گیاه زعفران خواهان حمایت بیشتر مسؤلان دولت افغانستان در حمایت از این گیاه هستند. آنان میگویند بسته‌بندی تقلبی زعفران افغانستان در کشورهای همسایه یکی دیگر از چالش‌هایی است که مانع معرفی آن در بازار جهانی میشود.

گفته میشود که احتمالاً عواید زعفران تا چند سال دیگر به ۳ صد میلیون دالر برسد. عده‌ای از کارشناسان به این باور اند که ریاست زراعت هرات، در ماه‌های اخیر تلاش‌های بیشتری در جهت بهبود و پیشرفت سیستم زراعتی در این شهر انجام داده، که تا اندازه‌ای امیدوار کننده به نظر میرسد. هرات، اساساً یک شهر زراعتی بوده و احیای زیربناهای زراعتی، میتواند در رشد اقتصادی کشور سهم ارزنده‌ای ایفاء کند؛ اما این همه، وابسته به کار صادقانه از طرف ارگان های ذیربط دولتی و غیردولتی میباشد که دراین راستا به سرمایه‌گذاری میپردازند.

مشکل عمده‌ای که هرات در طی چند دهه اخیر در بخش زراعت و سایر عرصه‌ها با آن مواجه بوده، اینست که مسئولان مربوطه برای جلب توجه و افزایش اعتماد خویش در بین مردم، همیشه از طرح پلان‌های کاری حرف زده؛ اما هیچگاه به تطبیق درست طرح‌ها و برنامه‌های خویش نپرداخته اند. کارشناسان امور بر این باور اند که عدم تطبیق این پلان‌ها، نشاندهندهٔ آنست که مقام‌های مسئول با وجود امکانات دست‌داشته و جذب کمک‌ها برای تطبیق پلان‌های خویش، اقدام‌های عملی از خود نشان نداده اند و تعدادی از طرح ها و برنامه‌ها روی کاغذ باقی مانده اند.

تجربه کشت زعفران در هرات؛ نمونه‌ی خوبی از حرکت های صرفاً خود جوش و مردمی به شمار می‌رود. زمین داران و دهاقین هرات، در کشت زعفران به عنوان بدیل کوکنار، به موفقیت خوبی دست یافته اند و تجربه کم آنان در این زمینه، گویا فایده بیشتر آنان میباشد. فعلاً در روش کشت سنتی زعفران، از هر جریب زمین از ۱ الی ۳ کیلو گرام زعفران برداشت میشود که هر کیلوی آن از ۸۰ تا ۱۰۰ هزار افغانی خرید و فروش میشود. دهقانان به این نظر اند که زعفران افغانستان در منطقه بدیل ندارد، زیرا از کیفیت خاصی بر خوردار بوده و در بازارهای جهان، جایگاه خاصی را از آن خود نموده است.▣



# د پیسو تاریخي بهیر ته ځغلنده کتنه



عابدالله بیدار
د ټولو ناظر اداري آډیت سوپر وایزر

دا روښانه ده چې په تیرو وختونو کې پیسو د نن ورځې په بڼه شتون نه درلود، هغه مهال بېلابېل توکي کارېدل څو انساني اړتیاوې بشپړې کړي، خو د وخت په تېرېدو سره په لومړیو کې فلزي مسکوکات او بیا بانکنوټونه رامنځته شول چې د بارتر ( توکو ادلون بدلون )معاملې ځای یې خپل کړ.

د راکړې او ورکړې د پرمختګ له امله اړتیا وه چې د فلزاتو (سره زر او سپین زر) څخه د تبادلې د وسیلې په توګه کار واخیستل شي او په ځینو ټولنو کې لکه افریقا او د بحرالکاهل جزیرې کې صدف د تبادلې وسیلې په توګه کارېدل او تر وروستیو سلو کلونو یې هم دوام درلود، خو د پوهې او پرمختګ له امله بېلابېل توکي په راکړو او ورکړو کې کارېدل، ( سره او سپین زر) د پېر او پلور لپاره ښې وسیلې وټاکل شوې چې د راکړې او ورکړې معاملې یې د بارتر معاملو په پرتله اسانه کړې.

دغه فلزات د خپل کیمیاوي خواصو پر اساس د خلکو د خوښې وړ وګرځېدل او

»

له همدې امله په راکړه او ورکړه کې ترې ګټه پورته کېده چې د ارزښت له امله یې لیږد رالیږد هم د نورو څیزونو په پرتله اسانه وو .

همدارنګه په ټولو هېوادونو کې د نجیبه فلزاتو د پېژندنې، وضاحت د دې لامل شو چې په پیر او پلور کې ګټې اخیستنې ته قوت ور وبښي او د نړۍ ډېریو هېوادونو سره زر او سپین زر د پیسو په بڼه په راکړه او ورکړه کې کارول، چې وروسته بیا د سرو زرو او سپین زرو مسکوکات هم رامنځته شول او د وخت په تېرېدو سره بانکنوټونه چاپ شول، چې د سرو زرو په بدل کې هم د بدلیدو وړ وو.

فلزي او کاغذي پیسې دواړه د مبادلې په درشل کې د کارونې وړ وګرځیدلې، خو د علم او تکنالوژۍ په پرمختګ سره یواځې پیسې په راکړه او ورکړه کې نه کارول کیږي، د دې ترڅنګ (چک، ارزښت لرونکي اسناد) هم د راکړې او ورکړې په معلاملو کې مهم رول ترسره کوي.

**د پیسو تعریف**

پیسې په بېلابېلو ډولونو تعریف شوي دي، د یو لرغوني او پخواني تعریف پر اساس پیسې هغه متاع (شی) دی چې د توکو تبادله له منځه وړي، ځیني وروستي عالمان پیسې هغه متاع ګڼي چې د هغه لرونکي ته قدرت ورکوي تر څو ځان د راکړې او ورکړې پرمهال څواکمن احساس کړي او په پېر او پلور کې آزادي ولري. ځیني نور بیا (د پیسو د پیژندنې اسانه لاره) د هغه دندو پراساس ټاکلې ده او د پیسو تعریف یې د پیسو دندو پورې اړوند ګڼل دی. هر شی چې وکولای شي د (تبادلي، زیرمي، حسابي واحد ارزښت او د پور د ادا کولو وسیلې) دنده ترسره کړي، پیسې ګڼل کیږي.

**ماکس ویبر** (Max Weber)، پیسې د یو تبادلوي څیز په توګه پیژني اوعقیده لري، چې دغه څیز په ساتلو کي هم د اقتصاد بېلابېلو مرکزونو په واسطه د تبا دلي د وسیلې په حیث ومنل شي.

د **مارشال** په نظر، پیسې هغه شی دی چې د دولت په څیر د داسې خصوصیاتو درلودونکي وي چې په هرځاي کې بي د شکه د منلو وړ وي، او د هغه په مرسته د کالیو او خدماتو راکړه او ورکړه او د پورونو تصفیه ترسره شي.

په لویه کې پیسې د پېر د قوت نوم دی چې په مرسته یې کالي پیریدل کیږي.

**د پیسو اساسي دندې:**

پیسې که کاغذی وي، که سره او سپین زر وي، سکه وي یا بل هر شی وي اصلی دندې یې دری دي.

- د تبادلې وسیله
- د محاسبې واحد
- د ارزښت ساتنه

**د پیسو د رامنځته کیدو مراحل**

انسانانو له لومړیو څخه په خپلو منځو کې اړیکې درلودلې او د اړتیا وړ توکي یې په خپلو منځو کې تبادله کول چې هغې تبادلې جنسي بڼه درلوده. د وخت په تېرېدو سره په راکړه او ورکړه کې بدلونونه راغلل چې دا بدلونونو په لاندې برخو ویشل شوي دي.

۱: د بارترسیستم څخه د جنسي پیسو رامنځته کیدل؛

۲: د جنسي پیسو بدلېدل په فلزي پیسو؛

۳: د کاغذي پیسو رامنځته کیدل؛

۴: د اعتباري پیسو رامنځته کیدل؛

۵: د پلاستیکي پیسو رامنځته کیدل؛

**۱: د جنسي پیسو رامنځته کیدل:** کله چې د انسانانو شمیر مخ په ډېریدو شو قبیلې، کلي او قومونه رامنځته شول خلک په بېلابېلوکړنو بوخت شول، د

»

هرې سیمې خلکو بېلابېل توکي د راکړې او ورکړې د وسیلې په توګه کارول، چې همدې معاملوته جنسي پېر او پلور وايي. ښکاري قبیلو د پوستکو او غشیو څخه د تبادلې د وسیلې په توګه ګټه اخیستله، کلیوالو خلکو له کورنیو اهلي ژوو څخه ګټه پورته کوله او کرنیز محصولات یې ترلاسه کول او په ځینو ځایونو کې اوس هم له کرنیزو محصولاتو څخه د تبادلې په توګه کار اخیستل کیږي.

**۲: د فلزي پیسو رامنځته کیدل:** جنسي پیسو د ډیرو نیمګړتیاو له لرلو سره سره ونشوای کړای چې په پېر او پلور کې اسانتیا رامنځته کړي. ځکه چې توکي د ډیر وخت لپاره د ساتلو قابلیت نه لري، ځیني ځیزونه لکه ، حیوانات د ویشلو وړ نه دي او ځینې ځیزونه موسمي بڼه لري. د دې نیمګړتیاو د له منځه وړلو په موخه خلک د دې په لټه کې شول، څو داسې یوه وسیله رامنځته کړي چې دهغه وخت شته نیمګړتیاوې له منځه ولاړې شي.

د انسانانو د اړتیا له مخې فلزات د تبادلې د وسیلې په توګه وکارول شول چې په عمده توګه له سرو او سپینو زرو څخه پدې برخه کې ګټه اخستل شوې، ځکه سره او سپین زر د ارزښت د ذخیره کیدلو لپاره بهترینه وسیله ده، د وخت په تېرېدو سره سکې رامنځته شوې چې د هغو معیار او اندازه په اسانه توګه د محاسبې وړ وه او لومړی سکې په اروپا کی رامنځته شوي دي.

**۳: کاغذي پیسې:** د مؤرخینو په اند،کاغذي پیسې لومړي ځل د نهمې عیسوي پیړۍ په پیل کې په چین کې دود شوې او وروسته بیا په هندوستان کې کارول کیدلې، خو په اروپا کی تر ټولو د مخه د سویډن هېواد کې کاغذي پیسې نشر شوي دي.

وروسته ترهغې د انګلستان مرکزي بانک کاغذي پیسې په کار واچولې. سره لدې چې کاغذي پیسې ډیرې کارول کیږي، خو د هغې ترڅنګ فلزي پیسې هم په چلند کې دي چې په راکړو او ورکړو کی ترې ګټه اخیستل کیږي.

**۴: اعتباري پیسې:** د سوداګرۍ د پراختیا او د بانکي سیستم د پرمختګ په لړ کې (Barclays Bank ) لومړنی بانک وه چې په ۱۹۶۶ کال کې یې د لومړي ځل لپاره کریډیټ کارټ معرفي کړ، له دې وروسته ډیرو نورو بانکونو د یاد کارټ دخدمتونو وړاندې کول پیل کړل.دکریډیټ کارټ فرهنګ یا خدمات په غربي نړۍ کې له ډیرې پخوا رواج دي. د پیسو نوی ډول یعني اعتباري پیسې رامنځته شوې او د نړۍ په ډیرېو هېوادونو کې ترې ګټه اخیستل کیږي لکه چکونه، حوالې، کریډیټ کارټ او داسې نور.....

**۵: پلاستیکي پیسې:** استرالیا هغه لومړنی هیواد دی چې په **۱۹۸۸** میلادي کال کې د لومړي ځل لپاره پلاستیکي پیسې چاپ کړي دي، چې د وخت په تېرېدو سره په نورو هېوادنو کې هم پلاستیکي پیسو دود موندلی دی.

دمګړۍ د نړۍ له ۲۰۴ هېوادونو له ټولګې څخه نېږدې ۶۰ هېوادونه پلاستیکي پیسې کاروي. پلاستیکي پیسې د کاغذي پیسو په پرتله زیاتې ګټې لري، ځکه د پلاستیکي پیسو دوام ډیر دی، ژر نه زړیږي او د لګښتونو له اړخه هم اقتصادي دي.

په ټوله کې ویلی شو چې په ۲۱ مه پیړۍ کې پیسې د انساني او ټولنیز پرمختګ لپاره یو ډیر مهم فکتور ګڼل کیږي.▣



# د کوچنیو او منځنیو کارونو تشویق د اقتصادي پرمختګ لپاره اړین دي



تاج محمد تمکین
د افغانستان بانک د ختیځ زون اقتصادپوه

د افغانستان اقتصاد له جغرافیایي پلوه ډیر توپیر لرونکی دی، ځکه ورته د دوه ګوني اقتصاد لرونکي هېواد نوم ورکولای شو، په دې مانا چې یو یې ښاري اقتصاد دی چې د ژوند د هرډول آسانتیاوو څخه په پرتله ایزه توګه برخمن دی، په ښارونو کې ښوونځي شته، اوزګارتیا کمه ده، روغتیایې ستونزې کمې دي، هره کوڅه یې کریږ یا هم پخه شوې ده او همدا ډول د خصوصي پوهنتونو په لرلو سره د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو لپاره لارې چارې شتون لري، خو له بده مرغه کلیوالي اقتصاد بیا په بشپړ ډول توپیر لري.

په کلیوالي اقتصاد کې بیا د ژوند بنسټیزې آسانتیاوې هم په ستونزمنه توګه پیدا کیږي، روغتونونه کم یا هم نشته، خصوصي ښوونځي شتون نه لري، پارکونه نشته، پوهنتونونه نشته او همدا ډول لویې یا وړې کارخانې هم له نشت سره مخامخ دي، څو د خلکو دبیکارۍ ستونزه پای ومومي.

»

ډیرئ خلک د کار او روزګار د ترلاسه کولو لپاره د ښارونو لوري ته مخه کوي او دا د دې لامل کیږي چې په ښارونو کې په کمو فرصتونو باندې زیات خلک نازل شي، بیا ستونزمنه ده چې ټول خلک دې وکولای شي کار ترلاسه کړي.


د کلیوالي خلکو لپاره د کاري چاپیریال برابرولو مسولیت تر ډیره پورې د مرسته کونکو مؤسساتو او یا هم د کار وزارت پورې تړل کیږي، خو ویلای شو چې د کوچنیو کارونو په تشویق او یا هم هڅونه کې ټولې اداري رول لوبولای شي. د کلیوالي اقتصادونو غوړولو او ښیرازه کولو د پرمختیا لپاره زیات اړین دي، ځکه که وګورو د هېواد اتیا سلنه نفوس په کلیو او بانډو کې ژوند کوي او کلیوال د هېواد د اقتصاد او ژوند ښه استازیتوب کوي، په ښارونو کې خو بې له هغې هم د ژوند هر ډول آسانتیاوې شته، خو اساسي خبره دا ده چې دوه ګونیزم له منځه یوړل شي او د کلیوالي اقتصادونو د پیاوړتیا لپاره کار وشي.

که چیرې د کوچنیو او منځنیو کارونو لکه خامک اوبدنه، کب روزنه، غالۍ اوبدنه او نورو کارونو لپاره لارې چارې برابرې شي، له یوې خوا به ګڼ شمیر خلک په کار وګمارل شي او بل پلوه به تر ډیره بریده د بیوزلۍ ستونزې حل شي او په پایله کې به یې په ملي عوایدو هم مثبت اغیز وکړي.

بانکونه کولای شي چې د کوچنیو او منځنیو کارونو لپاره په کلیوالي سیمو کې خلکو ته پورونه ورکړي، همدا ډول کوپراتیفي ټولنې کولای شي کرنیزو محصولاتو د ودې په موخه بزګرو ته پورونه ورکړي او هم مرسته کوونکې مؤسسات او اداري کولای شي خلکو ته په آسانه توګه د پور ورکونې له لارې د کارونو د غښتلتیا لپاره لارې چارې برابرې کړي، چې په دې سره به تولیدات او محصولات وده وکړي او د ښاري اقتصاد د پیاوړتیا لپاره به لارې برابرې شي.

د کوچنیو او منځنیو کارونو د تشویق موضوع ډیره مهمه ده، ځکه له یوې خوا به خلک مالي آسانتیاوو ته لاس رسی پیدا کړي او له بل پلوه به تولیدات زیات شي، خلک به له بیکارۍ وژغورل شي چې په پایله کې یې د تولیداتو برخه به غښتلې شي.

تر ټولو مهم دا چې د دوه ګوني اقتصاد ځانګړتیا ختمیږي او هېواد وال کولای شي په برابره توګه په ښار او کلي کې د ژوندانه اړینو آسانتیاوو ته لاسرسی پیدا کړي.▣





# بهرنیو بازارونو ته د وچې او تازه میوې صادراتو کچه لوړه شوې ده

افغانستان د نړۍ په کچه د تازه او وچې میوې د کیفیت او خوند له امله ښه شهرت لري. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې د چارواکو د معلوماتو له مخې له هند او د منځنۍ آسیا له ځینو هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا په صورت کې د افغانستان د صادراتو کچه لوړه شوې ده، چې ځینې هېوادونه یې مجبوره کړي څو له افغانستان سره خپلې سوداګریزې اړیکې پرته له خنډونو پراخې کړي.

له نیکه مرغه سږ کال پاکستان هم د افغان د مېوې د صادراتو پر مخ لار ونه تړله او په دې کار سره یې د افغانستان د محصولاتو د ودې لپاره ور پرانیست، او له افغانستان سره یې د سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره زمینه کړې ده.

د افغانستان دولت د سیمې او منځنۍ آسیا د هېوادونو په ګډون له پاکستان سره د ترانزیټ په برخه کې بېلابېل تړونونه لاسلیک کړي او هڅه کوي چې د دغو تړونونو په پلي کولو سره د سوداګرۍ پروړاندې ټول خنډونه له منځه ولاړ شي، چې له دې ټولګې څخه د سافټا تړون یادونه کولی شو.

د سویلي آسیا د آزادې سوداګرۍ ساحوې تړون یا سافټا (SAFTA) موخه په سویلی آسیا کې د سوداګرۍ او اقتصادي ودې پرمختګ ته ځانګړې شوې دی. سافټا تړون په 2006 کال رامنځته شو چې عمده موخه یې د سارک د هېوادونو ترمنځ د سوداګریزې تعرفې راکمول دي.

د افغانستان دولت هڅه کوي چې د نړۍ له ټولو هېوادونو په ځانګړې توګه ګاونډیو او د سیمې هېوادونو سره سوداګریزو اړیکو ته پراختیا ورکړي او د دې هېوادونو سره راکړه او ورکړه ولري، خو لاهم ځینې ستونزې شته چې باید د

»

هوارۍ په موخه کوټلي ګامونه پورته شي.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې د معلوماتو له مخې د روان کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د افغانستان د تازه مېوو صادرات د تېر کال د ورته وخت په پرتله، اته سلنه ډېر شوي دي. سږ کال ۹۰ زره ټنه انګور، انار او زردالو بهر ته استول شوي چې د تېر کال په پرتله اته سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د مېوو د صادراتو د کچې د زیاتوالي یو لامل دا دی چې د افغانستان او هند ترمنځ هوایي دهلیز رامنځته شو.

تېرکال ۱۱۴ میلیونه ډالر د مېوې صادرات وو او سږکال په لومړیو څلورو میاشتو کې ۱۲۴ میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات ترسره شوي دي او لاهم د کال پای ته لا وخت شته چې ترهغه مهاله ښایي دا کچه نوره هم ډېره پورته شي.

د افغانستان مېوه اوس د ایران له چابهار بندرله لارې ایران او عباس بندر له لارې ځینې نورو هېوادونو ته هم لېږدول کېږي. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې په وینا، په دغه پرمختګ سره به د مېوې د صارداتو کچه د روان کال تر پایه ۲۰ سلنې ته لوړه شي.

تېر کال افغانستان ۱۵۰ زره ټنه صادرات درلودل، سږ کال ښايي ۵۰ زره ټنه صادراتي کچه ډېره شي او دوه سوه زره ټنو ته ورسېږي.

که څه هم وچه او تازه مېوه د افغانستان د صادراتو ډېره برخه جوړوي، خو د صادراتو لپاره یې پر پاکستان تکیه ډېره ده، ځکه چې افغانستان نړیوالو بازارونو ته لاس رسی نه لري او که چیرې له نړیوالو سره په ځانګړي توګه د منځنۍ آسیا هېوادونو سره په دې اړه تړونونه لاسلیک شي او بیا عملي بڼه ونیسي او افغانستان کولی شي چې نړیوالو بازارونو په ځانګړي توګه اروپا ته لاس رسی پیدا کړي. د ۱۳۹۵ کال په ترڅ کې د افغانستان د صادراتو کچه ۶۰۰ میلیونو ډالرو ته رسیږي چې واردات یې بیا شپږ نیم میلیارده ډالر ثبت شوي دي، خو اوس مهال له نړیوالو هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې پراخې شوي، صادراتو هم وده کړې او د دې ترڅنګ نړیوال بازارونو کې هم افغان محصولات لیدل کیږي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان میوه پر پاکستان سربېره په هند، د منځنۍ آسیا، عربي هېوادونو، روسیه او اروپا کې هم مینوال لري، خو دغو هېوادونو ته، ځکه کمه صادرېږي چې بسته بندي لوړ معیار غواړي او ځېنو هېوادونو سره د آسانه ځمکنیو لارو نشتوالي له امله ډېرۍ افغاني صادرات ګاونډیو هېوادونو او د هغوی په وسیله بیا بهر ته صادرېږي چې ډېرۍ یې آن د همدغو هېوادونو په مارك او ټاپې نورو هېوادونو ته وړل کیږي چې افغان محصولاتو پیژندنې ته یې هم زیان رسولی دی.▣

1. سرچینه : سپوږمی راډیو ۲۳ وږی ۱۳۹۶
2. بي بي سي، کابل ۱۴ سپتمبر ۲۰۱۷
3. د افغانستان د احصایې مرکزي اداره، افغانستان د ارقامو په هېنداره کې، جدول ۳۳- ۳۷.

# سویفت، کارکرد و مزایای آن در نظام بانکداری

سویفت (SWIFT) مخفف کلمات (Society for Worldwide Interbank Financial Telecommunication) یا همان ارتباطات مالی بین البانکی جامعهٔ جهانی است. در اواخر دههٔ ۱۹۵۰، تجارت جهانی به سرعت رشد نمود و مطابق به آن نیاز شدید به یک سیستم صدور حوالهٔ بین البانکی استندرد احساس می گردید. سرانجام بانک های بزرگ امریکایی و اروپایی در اوایل دههٔ ۱۹۶۰ موافقه نمودند تا روش نوین تبادل پیام های بین البانکی را طوری طرح نمایند تا سیستم بانکی بین المللی دارای یک اتوماسیون قوی باشد.

پس از برنامه ریزی های فراوان، در ماه می ۱۹۷۳ میلادی، میان ۲۳۹ بانک از ۱۵ کشور اروپایی و امریکایی، طی یک تفاهمنامهٔ سیستم سویفت در شهر بروکسل تأسیس گردید. هدف از راه اندازی این سیستم جاگزینی روش های ارتباطی غیر استندرد بین البانکی در سطح جهان بود. این سیستم برای اولین بار در سال ۱۹۷۷ میلادی با عضویت ۵۱۸ بانک از ۲۲ کشور جهان با ارسال ۵۰۰۰ پیام در اولین روز، آغاز شد.

در حال حاضر بیش از ۹۷۰۰ بانک و مؤسسهٔ مالی در ۲۰۹ کشور جهان عضویت این سیستم را دارند و تنها در

»

سال ۲۰۱۳ میلادی این سیستم توانست زمینهٔ سهولت انتقال میلیارد ها دالر حواله میان ۱۰۵۰۰ بانک و شرکت ها را که عضو این سیستم هستند را فراهم نماید.

**چگونگی کار سیستم سویفت**

سویفت یک نقطهٔ دسترسی را که SAP نامیده می شود، در اختیار هر کشور قرار می دهد، تا بوسیلهٔ آن به سیستم جهانی سویفت وصل شوند. برای صدور حوالهٔ سویفت به کُد سویفت ضرورت است، زیرا آن دسته حساب های بانکی می توانند در سیستم سویفت ارزی حواله دریافت کنند که به این سیستم وصل بوده و کُد آنرا دریافت کرده باشند. کُد سویفت ۱۱ رقمی بوده که دارندهٔ حساب باید این کُد را در اختیار داشته باشد.

**مزایای سیستم سویفت**

با توجه به رونق مبادلات بین افغانستان و کشورهای خارجی و نیاز نقل و انتقالات ارزی، اهمیت استفاده از سیستم سویفت برای ما آشکارتر شده است، مزایایی که سیستم سویفت در زمینه نقل و انتقالات بانکی برای ما به همراه دارد عبارت از: استندرد بودن، قابلیت اطمینان بودن، سرعت، امنیت، کاهش هزینه، تسویهٔ سریع و هم زمان حساب ها می باشند.

این موضوع بدین معنا است که برقراری سویفت در زنده‌گی مردم اثری خوبی دارد و با نبود آن ارتباط بانک های داخلی با بانک های خارجی قطع می گردد. برقراری سویفت می تواند به بخش هایی مانند بورس و حتی ثبات نرخ ارز نیز اثرگذار باشد و زنجیرهٔ نظام بانکی و ارتباطش را با جهان منظم سازد.

سیستم سویفت با ارائهٔ خدمات متنوع بانکی تمام نیاز های مؤسسات مالی سراسر جهان را در پرداخت‌ها، بازار های مالی، اوراق مالی، اوراق بهادار و مبادلات مالی کمک می نماید.

این سیستم در مرز ها محدود نبوده، دسترسی به هزاران مؤسسه مالی در هر گوشه و کنار جهان را بطور ۲۴ ساعته به راحتی امکان پذیر ساخته و سطح بالای استندرد آن بطور ارائهٔ یک زبان مشترک برای همه استفاده کننده‌گان سیستم مالی طراحی شده است.

ازجمله مزایای دیگری که سیستم سویفت دارد، عبارت از افزایش بهره وری، کاهش هزینه و خطا های احتمالی می باشد، همچنان هنگامی که فرستنده و گیرندهٔ پیام، هر دو در شبکهٔ سویفت فعال باشند، انتقال و مبادلهٔ پیام فقط در چند ثانیه امکان پذیر بوده و کلیه مبادلات بصورت آنی صورت می گیرد.

سیستم سویفت به منظور ارتقای امنیت مبادلهٔ پیام های بین البانکی به سیستم مطمئن و غیر قابل دسترسی طراحی گردیده است. با گشایش این سیستم ارز به نظام بانکی تزریق شده و باعث ثبات نظام بانکی در کشور ها می گردد.

طراحی سیستم سویفت به نحوی بوده که درصد اشتباه در آن خیلی اندک بوده و در صورتیکه مشخصهٔ پیام بطور دقیق و مطابق به استندرد اجراء نشود، سیستم سویفت از قبول آن خود داری می نماید. سویفت ادعا می نماید که این سیستم در حدود ۹۹/۹۹ درصد قابل اطمینان است، روی همین علت است که از ابتدای فعال شدن سیستم سویفت تا حال یک پیام هم مفقود نشده است.▣

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


1. http://www.bultnews.com/fa/news / سویفت چیست؟ – تاریخ نشر ۱۳ میزان ۱۳۹۲
2. http:// srarsoheil.com / سویفت چیست و چگونه کار می کند / تاریخ نشر ۱۲ حوت ۱۳۹۵
3. http://www.asriran.com/fa/news/ / کد خبر – ۳۳۱۵۸۲ / تاریخ نشر ۳۰ حمل ۱۳۹۳

# نقش شبکه های اجتماعی آنلاین در حیات بانکها

امروز استفاده از شبکه های اجتماعی آنلاین در میان تجار، متشبثین و عامه مردم افزایش یافته و با افزایش شبکه های اجتماعی آنلاین و استفاده از آنها علاقهٔ شدیدی بر جذب مشتریان از این طریق نیز بیشتر شده است. در این میان کارشناسان بازاریابی از جمله اولین کسانی هستند که سعی نمودند تا نتایج بالقوه و بازدهی مشتری را در شبکه‌های اجتماعی آنلاین درک و شناسایی نمایند.

با پیشرفت تکنالوژی و نو آوری در صنایع، به مرور زمان رقابت بین شرکت ها بیش از پیش افزایش می یابد. اغلب شرکت‌ها دریافته اند که بقا و حیات آنها در گرو حفظ و داشتن مشتریان وفادار است، نه در گرو مشتریان راضی و خشنود. در حال حاضر رضایت، خرید مجدد و وفاداری عبارت از مفاهیمی اند که در ادبیات بازاریابی مورد استفاده قرار میگیرند.

یکی از مهم ترین راهکارهای که در این عرصه مورد توجه قرار دارد، عبارت از استفاده از شبکه های اجتماعی نظیر فیسبوک است که از آن می توان در ایجاد توجه، تمایل، خرید، رضایت و وفا داری مشتری استفاده نمود. این شبکهٔ اجتماعی با داشتن حدود یک میلیارد کار بر، برای شرکت ها، منفعت فراوان بمیان آورده است. این شبکه یکی از بزرگترین شبکه های اجتماعی بوده که به همه علامات تجارتی دسترسی داشته و توانایی جذب مخاطبان خود را بسیار بالا برده و همچنان برای دستیابی به مشتریان وفادار به یک صنعت بزرگ برای همه شرکت ها خصوصاً برای بانک‌ها مبدل شده است.

یک برند قوی به یک شرکت تجارتی کمک می نماید تا خود را در بازار متمایز ساخته و نشان دهد که چگونه محصولات و خدمات اش توان کسب رضایت مشتریان را به صورت منحصر به فرد خود دارد. امروز بازاریابی اجتماعی را می توان به عنوان یکی از مهمترین راه های متمایز سازی برندها محسوب نمود. در این عرصه، متفاوت سازی محصولات یا خدمات می تواند برند ها را متمایز سازد. بطور نمونه، هرگاه شرکتی خدمات نا ملموس خود را به مشتریان خود عرضه می کند، باید مستلزم برخورداری از برند قابل اطمینان باشد.

بطور نمونه، خدمات مالی که از سوی بانک‌ها، مؤسسات سرمایه گذاری و ...

»

ارائه می گردند، اما آنها این را نباید فراموش کنند که ایجاد برند های پر قدرت نهایت مشکل خواهد بود، زیرا برخلاف کالا ها ارائۀ این نوع خدمات به مشتریان، عمدتاً متکی به انسان‌ها می باشد و انسان‌ها هم در بعضی موارد کمتر از ماشین ها قابل اعتماد هستند.

نظام بانکداری که یکی از سود آور ترین صنعت در جهان است، در سال ۲۰۰۶ پیش از صنایع مختلف نظیر معادن، نفت و گاز و فلزات، با داشتن حدود ۸۰۰ میلیارد دالر بالاترین سود را بخود اختصاص داد، همچنان تحلیلگران به این باور اند که در ده سال آینده رشد سودآوری بانک‌ها به اندازۀ دو برابر رشد ناخالص داخلی جهان افزایش خواهد یافت.

بازاریابی اجتماعی با سایر بازاریابی‌ها فرق دارد، تفاوت آن در این است که بازاریابی اجتماعی بیشتر به منافع آینده گان تاکید می نماید و اکثراً روی موضوعات فرهنگی و ارزشی در بازار ها اصرار می نماید، آنها در بازاریابی خود خواسته های مصرف کننده‌گان و منافع جامعه را در کوتاه مدت و دراز مدت در نظر می گیرند، از همین جهت، بازاریابی اجتماعی در بیشتر جا ها مورد قبول جامعه قرار گرفته است.

در بازاریابی اجتماعی، کسب منفعت و منافع اجتماعی نسبت به منابع شخصی اولویت بیشتر دارد. امروز بیشتر مؤسسات مالی دریافته اند که صرفاً تکیه کردن بر اصول بازاریابی سنتی و تجاری بطور درست نمی تواند جایگاه آنها را در بازار تضمین نماید. بناءً مزیت های رقابتی بازاریابی اجتماعی، مستلزم تقویت مستمر برند بوده که این امر وابسته به افراد جامعه و کمک به اهداف خُرد و بزرگ جامعه می باشد.

متمایز سازی برند یک بانک در میان برند سایر بانک‌های که خدمات مشابه به مشتریان خود عرضه می نماید، نیازمند مؤلفه های است که می توان از آن به بازاریابی اجتماعی نام برد. در این سیستم مشتریان به وضوح می دانند که هدف مدیران بانک‌ها تنها کسب منافع و افزایش سود برای سهام داران نمی باشد.

در بازاریابی اجتماعی نظر به مشکلات محیط زیستی، کمبود منابع طبیعی، رشد فزایندۀ جمعیت، تورم جهانی و به فراموشی سپردن خدمات اجتماعی، تمرکز بیشتر روی منافع بانک، خواسته های مردم، سهامداران و منافع جامعه، تعادل لازم را برقرار می گردد. در این سیستم بانک‌ها تعهد می نمایند تا به بخش هاییکه سبب خرابی محیط زیست می گردد، تسهیلات مالی را ارائه نه نمایند.

این سیستم، اعطای تسهیلات مالی را جهت گسترش شرکت های کوچک اقتصادی، زود بازده و کارآفرین به هدف اشتغالزایی، تحقق برنامه های دولت، کاهش بیکاری، گسترش اعطای تسهیلات قرض الحسنه، اعطای امکانات مالی در زمینه های که منجر به رفاه و آبادانی کشور گردد، انجام میدهد.

در افغانستان طی سال های اخیر، برندهای مؤسسات خدمات مالی بخصوص بانک‌ها از جایگاه خوبی برخوردار بوده و افزایش فضای رقابتی در بخش خدمات بانکی به بهره گیری از رویکرد بازاریابی اجتماعی سبب افزایش ارزش و محبوبیت بانک ها در میان مشتریان گردید.▣

منابع:


1. www.mbanews.ir/news2/ - بازاریابی اجتماعی و نقش آن در تقویت برند بانک‌ها
2. PDF www.Uast.ac.ir – نقش فناوری شبکه اجتماعی آنلاین بر مشارکت مشتری/ میزا حسن مقداد امینیان پژوهش و فناوری شماره ۱ خزان ۱۳۹۴ تاریخ نشر ۱۶ سرطان ۱۳۹۴
3. http://cstland.com – نقش شبکه های اجتماعی در انتشار محتوا چگونه است/ ارسال شده توسط ناهید عساکره – تاریخ نشر ۱۷ سرطان ۱۳۹۶




**اطلاعیه د افغانستان بانک!**

مطابق ماده سی و سوم قانون د افغانستان بانک پول رایج و واحد پولی افغانستان افغانی است، بناً از عموم افغانها، دوایر و مؤسسات دولتی و خصوصی آرزومندیم تا در قرار داد ها و سایر معاملات و داد و ستد های اقتصادی، پول افغانی را ترجیح دهند، چون افغانی از با ثبات ترین پول های منطقه بوده که در ثبات برنامه ریزی های اقتصادی تان مثمر واقع می شود.

# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک

سال یازدهم شماره ۱۲۵، عقرب ۱۳۹۵

DA AFGHANISTAN BANK

د افغانستان بانک



ګرانو هېوادوالو! د افغانۍ بانکنوټونو په ساتلو کې جدي پاملرنه وکړئ